(د خیبر پسرلني عملیات)

اتم کال څلورمه، پرلپسې ۶۸ ګڼه، جمادی الثانیه ۱۴۳۵، اپریل ۲۰۱۴م

پدی ګڼه کې:

ځانګړې پاڼه:

د دیموکراسۍ د تاریخ ترټولو...

جهادیکې محرمات او مکروهات

ناکامه پروسه او کامیاب تبلیغات

[illegible]

پوهنه

ایثار و فداکاری در اسلام

د شریعت د نفاذ له امله نړیوالو

د پروتایي هیواد سره...

د جهادي خپرونو پر مفاهیمو د...

دمورچل

اتم کال څلورمه، پرلپسې ۶۸ګڼه، جمادی الثانیه 1435 هـ ق، اپریل 2014ز

علمي، سیاسي اوجهادي میاشتینی خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
1	دخیبر په نامه دپسرلنیو علمیاتوپیل	1
2	خیبر خیبر یا یهود	2
4	د دیموکراسۍ د تاریخ تر ټولو	4
5	داسلام غزوات اوسرایا	9
6	د جهادي خپرونو پر مفاهیمو	14
7	دجهاد فقهي مسایل	19
8	ناکامه پروسه او کامیاب تبلیغات	22
9	شیوه‌ی زیبای گفت‌وگوی	25
10	پوهنه	30
11	جنګي جنایتونه (اپریل)	35
12	ایثار و فداکاری در اسلام	38
13	ذبیح الله مجاهدځو شپږ له خپل	43
14	حق سنګین است و باطل سبک	47
15	ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون	51
16	دامریکاسیاست په آسیاکي	53
	شهیدي قافلي	55
17	د شریعت د نفاذ له امله نړیوالو	61
18	د حاکمیت او قضاوت لپاره کتاب ته	63
19	دمورچل خبرونه	65
20	دمورچل وړمی	
21	د تلفاتو میاشتنی جدول	

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن نروی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سر مقاله

د خیبر په نامه د پسرلنیو عملیاتو پیل

د یوه بختور تفاؤل په توګه په هیواد کې د اسلامي امارت لخوا دا کال د(خیبر)په نامه د اشغالګرو او داخلي مزدورانو پر وړاندې د پسرلنیو عملیاتو پیل یو داسې تاریخي او ویاړلی ګام دی ،چې اغیز به یې انشاءالله تعالی د صدر اسلام د(خیبر) د سوبمنې غزوې غوندې تر اټکل پورته ، اوهمدا عملیات به ان شاءالله افغانستان ته د راغلیو یهودو او نصاراوو او د ددوئ داشربانو داستیصال او ریښو ایستلو پایله له ځانه سره راوړي .

د خیبر نوم په اسلامي تاریخ کې ځانګړی ځای اودشهکاریو ډک شالید لري د خیبرغزوه چې د اسلام دویاړمن تاریخ لومړنۍ تهاجمي غزا ده په هغو غزواتو کې شمیرل کیږي ، چې د اسلام د برم او عظمت ټوغ پکې هسک شوی، د بدر، احد او خندق له دفاعي غزواتو وروسته تعرضي غزوات له همدې غزا پیل شوي چې په دې توګه د نړۍ تر لرواوبر د اسلامي فتوحاتو د تسلسل پیلامه بلل کیږي .

د خیبر په نوم کلنې جهادي عملیات د اسې مهال اعلانیږي چې دښمن له وړاندې تینښتې ته پایځې بډ وهلي دي، په تیرو څومیاشتو کې دکاناډا،پولینډ،ډنمارک،سویډن او استرالیا یرغلګر ځواکونه په بشپړه توګه له افغانستانه تښتیدلي، بریتانوي عسکر و چې پخوا یې شاوخوا څلورسوه پوځي مراکز او بیسونه درلودل اوس له یوه بیس پرته له نورو ټولو تښتیدلي او زر ده چې په یومخیز ډول له افغانستانه پښې سپکې کړي.

د خارجي غلیم غوندې داخلي دښمن هم د پسرلي له رابریدو سره او د انتخاباتو په مهال د جهادي ځپونکو بریدونو په نتیجه کې په کلکه ځپل شوی دی، له بلې خوا مجاهدین دهر کله په پرتله له لوړ مورال، کاري انرژۍ او جهادي شوق څخه مالامال او عملیاتو ته بشپړ چمتوالی لري.

دې وضعیت ته په پام سره د خیبر عملیاتو په اړه د پیش قضاوت په توګه ویلی شو چې ان شاءالله دا عملیات به هم دتیرو عملیاتو عبرت ، نصرت ،الفتح ،البدر ،الفاروق او خالدبن ولید عملیاتو غوندې بریالي، ویاړمن او له فتحو مالامال وي، مورږ په الهي نصرت په باور سره په تمه یو چې دا عملیات به زمورږ له اسلامي خاورې څخه د کفري لښکرو د بشپړ وتلو او د کفر د شکست او سرټیټې باعث ګرځي.

د خیبر عملیاتو دپیل په اړه داسلامي امارت د رهبري شورى لخوا په خپره اعلامیه کې ویل شوي چې دا عملیات د کفري متجاوزو لښکرو د شړلو او په افغانستان کې داسلامي نظام د اعادې په موخه پیل شوي دي ددې اعلامیې په یوه برخه کې راځي :باید یوځل بیا په ډاګه کړو چې په هیواد کې د کفري یرغلګرو په وجود کې زمورږ دین او فقهي مراجع مورږ ته دیرغلګرو په وړاندې دمسلح جهاد امر کوي او جهاد فرض عین بولي بناء هغه اشغالګر او داخلي ملګري یې چې فکر کوي دبهرنیو ځواکونو دشمیر په کمولو سره به زمورږ جهادي اراده کمزوري شي باید په دې پوه وي چې داسلامي اساساتو له مخې په داراسلام کې لکه څنګه چې زرګونو اشغالګرو ته داوسیدلو جواز نشته ، محدود او د شمیر له اړخه کم اشغالګر هم کټ مټ همدا حکم لري چې له اسلامي خاورې شړل یې د ټولو مسلمانانو وجیبه ده)

مونږ پداسې حال کې چې د (خیبر) په ویاړلي او تاریخ جوړونکې نامه داسلامي امارت عملیاتي هوډ له خدایه ﷻ موفق او پر غلیمانو برلاسی غواړو له خپلو مجاهدینو اومسلمان ولس څخه هیله لرو ، چې د کفري تجاوزګرانو په وړاندې په پیل شوي دې تازه معرکه کې ځان له چا څخه وروسته نه کړي، له ټولو امکاناتو څخه په استفاده د کفري یرغل د ریښو ایستلو لپاره لاس په کار شي، په ټوپک، قلم او ژبه سره ددښمن په خلاف په دې پیل شوبو عملیاتو کې برخه واخلي، ترڅو الله تعالی ددې مبارکو عملیاتو په برکت کفري لښکرو ته شکست ورکړي او اولس مو یوځل بیا د ازاد متدین ژوندانه څخه برخمن شي .

خیبر خیبر یا یهود

ابوصهیب حقانی هراتی

جیش محمد ص سوف یعود!!!

خیبر نامی آشنا برای امت اسلام است؛ خیبر عملیاتی که برای مجاهدین صدر اسلام و مخصوصا جناب نبی اکرم – صلی الله علیه وسلم – موجی از خوشی ها را ببار آورد و آن فتح عظیم و غنایم ارزشمند تحولی سرنوشت ساز در تاریخ دلیران و سلحشوران اسلام به ارمغان آورد.

اینکه از طرف قیادت و شورای رهبری امارت اسلامی افغانستان، نام عملیات بهاری امسال "خیبر" گذاشته شده بدون شک از نظر زمان و شرایط فعلی بسیار مناسب و پسندیده است و همان قسمیکه در اعلامیه عملیات خیبر گفته شده که تفاولا این اسم برای عملیات بهاری سال جاری انتخاب گردیده، ان شاء الله امید فراوان می رود که سال جاری سال پر خیر و برکت، فتح و ظفر و پیروزی های پیهم علیه بقایای استکبار جهانی و ایادی اجیر و فریب خورده شان باشد و به حول و قوه الهی و شهامت و جوانمردی فرزندان غیور جهاد و مقاومت دور از انتظار نیست که خیبری دیگر در تاریخ اسلام و افغانستان به تکرار گرفته شود و با عملیات های حماسی فرزندان رشید اسلام و مکتب قرآن، و جانبازان راستین راه حق و آزادی وطن، پوزه استکبار جهانی و خون آشامان بین المللی به خاک ذلت مالیده شده و پایه های کفر و شرک و طاغوت، یهود، نصارای و دشمنان قسم خورده اسلام و مسلمین به لرزه در آمده و یکبار دیگر پیروزی فراگیر و همه جانبه حق بر باطلِ شکست پذیر و شکست خورده رقم بخورد!

خیبر نام حماسه های جاویدان صحابه جان برکف رسول الله – صلی الله علیه و سلم – است، خیبر جایزه و انعام ویژه حق سبحانه و تعالی برای فداکاری ها و زحمات ارزشمند شاگردان برحق و پیروان راستین محمد مصطفی – صلی الله علیه و سلم – در صدر اسلام بود، خیبر به معنای بشارت پیروزی های بزرگ و سترگ در تاریخ درخشان اسلام است، خیبر حکایت نامه دلاوردلی ها و قهرمانی های بی نظیر سیدنا علی مرتضی – رضی الله عنه – است که چگونه و با چه شهامت و غیرتی پُشت

مرحب های کفر را بر زمین ذلت خوابانید و مظهر غلبه حق بر باطل شد، خیبر تاریخچه ذلت یهودیت و دشمنان کینه توز اسلام و پیامبر عظیم الشان اسلام –صلی الله علیه و سلم –است که (آن یهودیان) بارها علیه نابودی اسلام و مسلمین توطئه چیدند و تمام مکر و نیرنگ شان را علیه اسلام و مسلمین بکاربستند، خیبر یادآور روزی است که دنیا با تمام زرق و برقش به پای عظمت صحابه کرام –رضوان الله اجمعین –افتاد و عزت دین بر دنیا در تارک تاریخ تسجیل گردید، خیبر داستان بزرگ منشی و خصال ارزشمند انسانی سرور و سالار انبیاء علیهم السلام را به خوانش گرفت که با دشمنان سرسخت دیرینه و پر کینه اش چگونه رفتار نمود و چه سخاوت و بخششی از خود در دل تاریخ بشریت به یادگار گذاشت و ...

و اما این بار و در سال جاری، خیبر اسم عملیات بزرگ مجاهدین قهرمان افغانستان قرار می گیرد تا باشد با تاسی به اخلاق بزرگ نبوی و فرماندهان رشید صدر اسلام، بار دیگر فرزندان علی شیرخدا مرحب های یهود و نصاری (امریکا و قوت های ائتلاف و غلامان حلقه به گوش آنها) را به نبرد سرنوشت ساز فرا خوانده و غُرّش شیران در کوه، دشت و بیابان افغانستان لرزه بر اندام عساکر اشغالگر و ایادی اجیر آنها افکنده و روبه صفتان ترسو را در میدان های جنگ، قلع و قمع نموده و همه بافته ها و یافته های چندین ساله متجاوزین خارجی و اجیران فرومایه داخلی را برهم ریخته و در یک نبرد سخت و سنگین بر دشمنان دین و قرآن، وطن و اسلام، یکبار دیگر حماسه خیبر صدر اسلام را عملا در این زمان به تکرار بگیرند. ان شاء الله!

ولی نباید فراموش کرد که عملیات خالد بن ولید – رضی الله عنه – در سال گذشته نیز سراسر فتح و نصرت و پیروزی بود و دمار از روزگار کفر و باطل در آورد و ان شاء الله روزی همه آن فداکاری ها محاسبه خواهند شد و برتری مجاهدین در میادین نظامی و غیره بر دشمنان قسم خورده اسلام و افغانستان در دایره المعارف جنگ تاریخی افغانستان تثبیت و تسجیل شده و داستان آن حماسه ها سینه به سینه و نسل به نسل به آیندگان وطن منتقل خواهند شد.

و اینک در آغازین ساعات شروع عملیات کفرشکن خیبر با افتخار و اقتدار و صدای رسا و بلند به تمام دشمنان اسلام در افغانستان، با نام نامی خیبر فریاد می زنیم و می گوییم: خیبر خیبر یا صلیب، یا عمیل ویا یهود جیش محمد سوف یعود!!!

ای لشکر صلیب ای لشکر اجیر و ای لشکریان شیطان و یهود! خبردار باشید که لشکریان شیرصفت و قهرمان محمد رسول الله –صلی الله علیه و سلم –به سراغ تک تک شما می آیند و شما را به سزای اعمال تان می رسانند!

به امید پیروزی عملیات بزرگ خیبر در سال جاری.

... و عملیات خیبر بشارت پیروزی اسلام بر صلیب خواهد بود ان شاء الله!

و ماذالک علی الله بعزیز

حبیب مجاهد

د ډیموکراسۍ د تاریخ تر ټولو مسخره ټاکنې

د ډیږ٠ي میلادي کال د اپریل په څلورمه نیټه ، نړیوالو او داخلي ملګرو یي د خپل نمایشي ډیموکراتیک بهیر د تمثیل او دهیوادوالو د غولولو لپاره د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو ټاکنې ترسره کړې .

ټاکنې داسې مهال ترسره شوې ، چې د هیواد په ۸۰ فیصده خاوره حکومت سلطه نه درلوده ، له ټاکنو وړاندې د مجاهدینو د تندریزو بریدونو له امله د حکومت تر واک لاندې سیمې هم په بشپړه توګه د وهم فضاء لاندې کړې وې ، بهرنۍ څارونکي له هیواده تښتیدلي وو او علاوه لدا چې موسمي شرایط هم خورا ناوړه او دهیواد په اکثره سیمو کې د ټاکنو په ورځ واوره یا باران وریده .

په همدې حال کې چې دښمن د ټاکنو خلاف هردول خبر نشرولو باندې رسمي بندیز لګولی وو ، د ټاکنو پروسه تمثیل شوه ، د دې لپاره چې تښتیدونکو یرغلګرو خپلو اولسونو ته افغان جګړه ګټلې ښکاره کړې او دلته یې د ډیموکراسۍ د تحکیم ثبوت ورته وړاندې کړې وې غربي رسنیو د خپلو پراخو تبلیغاتو په مټ د ټاکنو پروسه بریالۍ وښوده ، مګر حقیقت سل فیصده سرچپه وو ، که دا ټاکنې په یوه جمله کې تعریفوو نو باید ووایو ، چې دهیواد په ۸۰ فیصده ولس میشته سیمو کې هیڅ ټاکنې ونه شوې او په پاتې شل فیصده کې چې کومې ټاکنې وشوې ، له داسې رسوا درغلیو ، زوربازیو او تقلب څخه

چکې وې ، چې شاید ددیموکراسۍ تاریخ یې سارې نه وې لیدلې ، دلته به هڅه وکړو په لنډو ددې مسخرې ټاکنو یو انځور ستاسو مخې ته کیږدو چې شاید ددې پروسې په اړه په پوهاوي او روښاوي کې درسره مرسته ورکړې .

۸۰ فیصده غیرښاري سیمې

دافغانستان په ۸۰ فیصده کلیوالو یا غیرښاري سیمو باندې مجاهدین سلطه لري ، په دې سیمو کې هیڅ ټاکنې ترسره نه شوې ، مجاهدینو له ټاکنو وړاندې په پراخه پیمانه د اولس دتنویر لپاره کار کړی وو ، اولس یې په دې قانع کړی وو چې ټاکنې امریکایي غولوونکې پروسه ده او په کې شرکت ددین او وطن سره لویه غداري ده ، مجاهدینو په همدې موخه لیکلي پیغامونه او شبنامې هم ویشلي وې چې دانتخاباتو په وړې ډیرې مؤثرې ثابتې شوې دهیواد د ۸۰ فیصده کلیوالو سیمو اوسیدونکو له ټاکنو سره بشپړ پریکون وکړو او هیڅ رایه یې وانه چوله .

حکومت هڅه وکړه چې دهغو ولسوالیو په مراکزو کې سایټونه پرانیزي چې اطراف یې دمجاهدین په ولکه کې دي ، خو په دې برخه کې یا دسایټونو په پرانیستلو ونه توانیدل او یا یې هم که پرانیستي وو هیڅا په کې شرکت ونه کړ ، نوځکه چاروا کو په خپل مزاج صندوقونه له رایو ډک کړل .

دغه سیمې چې ټاکنې په کې نه دي ترسره شوې د کوم معلوم ولایت یا دهیواد دکوم خاص سمت پورې تړلي سیمې نه دي ، بلکې له بدخشانه نیولې بیا تر نیمروز درست افغانستان هغه سیمې چې دمجاهدین وړاندې سلطه ده ټاکنې په کې نه دي ترسره شوې ، او خلکو یې په کلکه دغه پروسه تحریم کړې ده .

۸۸ ٪ جهادي بریدونه

لکه څرنګه چې تر ټاکنو مخکې ورځې دجهادي عملیاتو له اړخه بیساري وې د ټاکنو ورځ هم دجهادي عملیاتو له اړخه یوه نمونه ورځ وه ، په دې ورځ مجاهدینو په شپاږو او دحکومت ترولکه لاندې سیمو کې دټاکنو دګډوډولو لپاره ۸۸ ٪ جهادي عملیات ترسره کړل ، ددې عملیاتو په لړ کې د لسګونو ولسوالیو په مراکزو کې چې دښمن کوم انتخاباتي سایټونه خلاص کړي وو بیرته بند شول ، په ځینو سیمو کې انتخاباتي سایټونه دمجاهدینو لخوا وسوزول شول ، دمجاهدینو عملیات خورا دقیق وو او داسې طراحي شوي وو چې ولسي خلکو ته په کې هیڅ زیان ونه رسیږي ، له همدې امله دحکومت داعتراف له مخې په دې ورځ که څه هم دحکومتي عسکرو او منسوبینو مرګ ژوبله خورا زیاته وه خو داولس له منځه یوازې یې تنه دجګړو قرباني شول ، د کورنیو چارو وزیر عمر داودزی د ټاکنو نه وروسته وویل چې ددې بریدونو په ترڅ کې دوی ۸۰ تنه عسکر ټپیان شوي او لسګونه وژل شوي دي خو مجاهدینو دښمن دتلفاتو شمیره ترډیره لوړه ښودله .

دغې بریدونو له امله ترڅیره دولسوالیو په مراکزو او دښارونو په ځنګلورو هغو سیمو کې چې دمجاهدینو د سرمیو تر رسد لاندې وې ، د ټاکنو پرانیستل شوي مراکز وتړل شول ، او دټاکنو ټغر د ښارونو ترمابین پورې ورټول شو ، دمجاهدینو عملیات نه یوازې د ټاکنو په مراکزو وو بلکې اطرافي سیمو ته د ټاکنیزو موادو او رای پاڼو دانتقال په کاروانونو هم ترسره کیدل ، په دې لړکې په اکثره سیمو کې ټاکنیز مواد یا د پاڼو ډک صندوقونه په نیمایي لارو کې له منځه یووړل شول .

تاریخي درغلي

سره له دې چې درغلي په ټولو سیمو کې ترسره شوې خو ترټولو پراخې درغلي دولسوالیو په هغو مراکزو کې وشوې چې عامو خلکو په ټاکنو کې ګډون ونه کړ او صندوقاني چارواکو ته پاته شول ، دغه راز هغه سیمې چې ځینې محلي زورواکان په کې مسلط دي هم دپراخو درغلیو شاهدې وې .

دافغانستان په تړنیمایي ژباتو ولایاتو کې په ټاکنیزو سایټونو کې رای پاڼې کمې شوې ، د ټاکنو کمیسیون وویل چې دوی هر مرکز ته ۶۰۰ رای پاڼې لیږلي چې که په یوه دقیقه کې یوه رایه ولویږي باید تر لسو ساعتونو رای پاڼې ختمې نه شي ، مګر داچې په اکثره مراکزو کې سهار او یا هم غرمه مهال رای پاڼې خلاصې شوې علت یې داوو چې د سایټونو کارکوونکو د پروسې له پیل نه وړاندې پاڼې صندوقونو ته اچولې وې ، نوځکه چې خلک راغلل محدودې پاڼې پاته وې او ژر خلاصې شوې .

په فیسبوک باندې د انتخاباتي درغلیو داسې شواهد نشر شوي چې دغه پروسه یوه خندنې او تقلبي پروسه ثابتوي ، مثلا په یوه ویډیو کې د وردګو په نرخ کې دانتخاباتي کمیسیون څو کسانو صندوقونه کور ته وړي او په خپله یې ډکوي ، دهمدې ولسوالي په اړه یوه بله ویډیو ښیي چې د کاندید سیاف لپاره ټولې پاڼې نښانه شوې او سربسته صندوقونو ته غورځول شوي دي ، دکندهار په دامان کې یو دکور مشر او څو ماشومان لګیا دي زر زر رای پاڼې نښانې کوي او بیا په مسخرو وایي چې خلک به هم وایي چې په دامان کې څومره ډیرو خلکو ګډون کړی خو خبر به نه وي چې رایې ټولې یوه کس نښانې کړې دي .

دانتخاباتو کمیسیون له انتخاباتو وروسته یوازې په هرات کې یو لک رایې باطلې اعلان کړې او په فراه کې یې د ۶ ډ مراکزو صندوقونه قرنطین کړل ، د مزار شریف په اړه ویل کیدل چې ددې ولایت والي عطامحمد نور دخپلو کسانو په توسط صندوقونه دعبدالله عبدالله په ګټه ډک کړي دي ، په پکتیا کې حتی دانتخاباتو له ورځې دوه ورځې وروسته هم صندوقونه ډکول روان وو ، دغه راز په کندهار کې خلکو وویل چې امنیه قومندان

جنرال رازق هغه صندوقونه چې له ولسوالیو تش راغلي وو دانتخاباتو نه یوه ورځ وروسته د کاندید زلمي رسول په ګټه له رایو څخ کړل .

په کابل ښار کې چې زیاتره ټاکنیز سایټونه په مکاتبو او لیسو کې پرانیستل شوي وو دپوهنې وزیر فاروق وردګ له خپل نفوذ نه په استفاده زلمي رسول په ګټه پراخه درغلي وکړه ، دکابل په ختیځ کې د دملاتره خیل په نامه دولسي جرګې غړي بیا د خپل نفوذ په ساحه کې دکمیسیون غړي او ځارونکي نه پریښودل نوموړي ځارونکي وشړل او صندوقونه یې په خپل طبیعت چې ځنګه خوښه وه څخ کړل ، په کابل کې نورو نورواکانو لکه امان الله ګذر ، دین محمد جرأت ، حاجي ممتاز ، اله ګل مجاهد ، زلمي توپان او نورو هم په خپلو سیمو کې دخپلو خوښو کاندیدانو په ګټه د پاموړ درغلی وکړې .

په ټوله کې باید ووایو چې انتخابات په اکثرو سیمو کې له سره ونه شول او چیرته چې سایټونه پرانیستل شوي وو دخلکو دنشتوالي نه په استفاده چارواکو او زورواکانو په خپله صندوقان څخ کړل او داسې یې وښودله چې دادی خلکو رایې اچولې دي ، یوه خارجي خبریال دانتخاباتو په ورځ په خپل ټویټر باندې ولیکل (هغه څه چې نه یې حیران کړم دا وو ، چې موږ د وردګو ولایت دچک ولسوالي دمرکز ټاکنیز سایټ ته ورغلو هلته هیڅ رایه ورکوونکی نه ترستړګو کیده مګر بیا هم صندوقونه له رایو څک پراته وو)

تر ټاکنو وروسته

کتونکي باور لري چې په هیواد کې ترسره شویو وروستیو ټاکنو څخه دامریکایانو هدف یوازې تبلیغاتي او تیرایستونکی وو ، غربیان چې له افغانستان تښتي حکومتونو یې اړتیا لیده تر څو خپل ولس ته وفهموي چې دوی له دې ځایه ماته خوړلي نه تښتي بلکې دلته یې دیموکراسي راوستې ده ، دهمدې لپاره یې دې ټاکنو ته خورا پراخ او منظم مطبوعاتي انعکاس ورکړ .

له ټاکنو وړاندې امریکایانو او دکابل چارواکو دمجاهدینو په خبرونو بندیز ولګاوو ، حتی د دې لپاره چې د ټاکنو په ورځ دبریدونو خبر نشر نشي او یا د ټاکنو دناکامۍ او درغلیو خبره خپره نه شي په ټول افغانستان کې یې په ټیلفوني مسیج لیږلو هم بندیز نافذ کړ ، تر ټاکنو یوه ورځ وړاندې په ننګرهار کې حکومتي چارواکو یو خبریال سخت ووهه ، کیمره او وسائل یې ورمات کړل او په دې توګه یې ټول خبریالان وډارول تر څو دټاکنو په وخت کې دحکومت په مزاج وچلیږي .

د ټاکنو په ورځ په داسې حال کې چې انتخابات په ډیرو محدودو ځایونو کې روان وو ، او دخلکو ګډون دنشت برابر وو حکومتي رسنیو یوازې همدا تبلیغات کول چې دا انتخابات بیساري وو ، په دې لړکې یوازې د

الاماره ویب پاڼه وه چې دانتخاباتو او جهادي بریدونو په اړه یې واقعیت خپراوو مګر د ورځې په نیمایي کې په دې ویب پاڼه هم هکرانو برید وکړ او خپرونې یې یوه شیبه له خنډ سره مخ کړې چې وروسته دالاماره ویب پاڼې د ویښو تخنیک کارانو په هڅو بیرته ویب پاڼې په خپرونو پیل وکړ .

له انتخاباتو وروسته په خوست کې دازادي راډیو خبریال لمرنیازی ، او ننګرهار کې د ټولنیز تیلویزیون خبریال زیارخان یاد د حکومتي چارواکو لخوا سخت ووهل شو چې ولې یې ددغلیو راپورونه ورکړي دي .

د حکومتي زور او خبرې سانسور په داسې فضاء کې د ټاکنو ورځ تیره شوه ، حکومتي او غربي رسنیو له یوې مخې همدا خبره تبلیغوله چې ټاکنې بیساري وې او هیڅ ستونزه موجوده نه وه ، د ټاکنو دکمیسیون مشر اعلان وکړ چې په ټاکنو کې ۷ ملیونه خلکو ګډون کړی وو ، مګر څو ورځې وروسته یې یې چې د پنځو لکو رایو نتایج اعلان کړل وېې ویل چې دا لس فیصده نتایج دي یعني دلته یې ومنله چې پنځه ملیونه خلکو ګډون کړی وو ، ځنګه چې دغه پنځه لکه رایې هم تصفیه شوې نه بلکې ګډې وډې وې داسې ویل کیږي چې په دې کې هم ترنیمایي زیاتې رایې تقلبي دي چې په دې توګه د ټاکنو په ورځ دخلکو داشتراک شمیر خورا کم بلل کیدای شي .

له ټاکنو وروسته په نورو هیوادونو کې نتائج په دوو یا دریو ورځو کې اعلانیږي مګر اوس چې له تاکنو کابو یوه میاشت تیریږي لا هم نتایج نه دي اعلان شوي ، د ټاکنو کمیسیون او ورسره د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیون په لویه معضله کې ښکیل شوي دي ، ځکه ټاکنې له لویه سره له درغلیو او تقلب ډکې وې په هره سیمه کې زورواکانو او چارواکو په خپله صندوقونه ډک کړي دي ، اوس له دوی نه هم لاره ورکه ده چې له دې ګډوډو ټاکنو څخه څرنګه نتیجه واخلي او څوک بربالی اعلان کړي ، که ټاکنې دوهم پړاو ته ځي نو بیا هم کوم تضمین نه شته چې درغلیو او ګډوډۍ به نه وي .

څرنګه چې د ټاکنو له ترسره کولو څخه امریکایانو خپلو تبلیغاتي هدف تر لاسه کړی دی ، اوس نو کوښښ کوي چې له ټاکنیزو نتایجو پرته یو مشترک ائتلافي حکومت رامنځته کړي دهمدې لپاره یې د مخکښو کاندیدانو او ارګ میشتو ترمنځ د جوړجاړې هڅې پیل کړې دي ، غالب ګومان دادی چې بیا به له هماغو زړو امریکایي اجیرانو څخه یو مختلط کمزوری حکومت رامنځته کړای شي ، او ټاکنیزه پروسه همداسې بې اغیزې پاته شي .

داسلام غزوات اوسرایا
داحد جنګ

۲۲مه برخه

د بوظهیر لیکنه

دمکې دفتحې وروسته، وحشي طایف خلکو دوفد سره یوځای اسلام قبلولو په نیت مدینې منورې ته راغی، په لیدو یې صحابه وو (رضی الله عنهم) عرض وکړ: یا رسول الله (ﷺ)! وحشي راغلی! هغه ستا دګران تره قاتل وحشي!

رسول الله (ﷺ) ور ته وویل:

دَعُوهُ فَلَا سَلَامُ رَجُلٍ واحدٍ اَحَبُّ اِلَیَّ من قَتلِ اَلفِ کَافِرٍ هغه ته دراتلو اجازه ورکړئ!! ماته دیوسړي اسلام راوړل له زرو کافرانو تر وژلو غوره دی.

رسول الله (ﷺ) له وحشي نه د حضرت حمزه (رضی الله عنه) دقتل کیسه وپوښتله، هغه (وحشي) په زیات خجالت او دحکم دتعمیل په خاطر ټوله کیسه و کړه، رسول الله (ﷺ) ورته داسلام قبلولو ترځنګ و فرمایل:

بنه به وي که ته ماته مخامخ رازي نه! څکه ستا په لیدو ما ته دتره پېښه یادیږي.

وحشي (رضی الله عنه) نه غوښتل په وجه يې رسول الله (ﷺ) تکلیف محسوس کړي، هر کله به چې در سول الله (ﷺ) مجلس ته راته ،تر شاه به کیناسته او هروخت په دې اندیښنو او چرتونو کې ډوب و و، چې څنګ دحضرت حمزه (رضی الله عنه) دقتل کفاره ادا کړم؟ بالاخر دحضرت حمزه (رضی الله عنه) دقتل په کفاره کې يې "مسیلمه کذاب" په هم هغه نیزه جهنم ته ولیږه، په کومه يې چې حضرت حمزه (رضی الله عنه) شهید کړی و، مسلیمه کذاب درسول الله (ﷺ) نه وروسته دنبوت دعوه وکړه، وحشي (رضی الله عنه) نامه کې هغه په نیزه وواهه او مړ يې کړ، په دې تو ګه دیوه غوره

انسان (خیر الناس) د وژلو کفاره یې دیو بدترین انسان (شر الناس) په وژلو سره ادا کړه (فتح الباري ۷ټوک ۲۸۴- ۲۸۵)

د صحیح بخاري په روایت د مسیلمه کذاب په وژلو کې دوحشي سره یو انصاري هم ګډون لاره، "واقدي، ابن اسحاق راهویه او حاکم وایي: هغه "انصاري عبد الله بن زید بن عاصم مازني" و، او ځینو د "عدی بن سهل" ځینو "ابو دجانه" او ځینو بیا د "زید بن الخطاب "نوم یاد کړی او ځیني وایي: چې "شن بن عبد الله" ګډون درلود، څنګه چې لاندې اشعارونه معلومیږي:

أَلَم تَرَانِي وَ وَحشِيَهُم ضَرَبنا مُسَيلَمَةَ المُفتَتِن

ایا تاسوته نده معلومه چې ما او وحشي په ګډه، مسیلمه فتنه ګر ووژړه.

يُسائِلُنِي الناسُ عَن قَتلِه فَقُلتُ ضَربتُ وَهذا طَعَن

خلک له مانه دمسیلمه دقتل په اړه پوښتنه کړې، چې هغه چا ووژړه؟ ما ځواب ورکړ: په توره ما وواهه او وحشي په نیزه!

فَلَستُ بِصَاحِبِه دُونَه وَلَيسَ بِصَاحِبِه دُونَ شَن

پس لنډه دا دمسلیمه قاتل نه زه یواځي یم! نه وحشي! او نه وحشي له "وشن" پرته وژلی.

(فتح الباری ۷ټوک ۲۸۴، ۲۸۵)

وحشي روایت کوي: زه درسول الله (ﷺ) په مخکې حاضر شوم، رسول الله (ﷺ) له ما وپوښتل: تا حمزه قتل کړ؟ ما عرض وکړ:

نعم والحمد الله الذی أکرمَهُ بیدی ولَم یُهِنّی بیده.

هو! شکر دی هغه خدای لره، چا چې ځما په لاس حضرت حمزه ته دشهادت عزت وبانبه! او زه یې دهغه په لاس ذلیل نکړم.

ولې که وحشي دحضرت حمزه (ﷺ) په لاس هغه مهال وژل شوی وای، نو دکفر په حالت کې به مړو او دډنه لوی اهانت او ذلت بل نشته.

دحضرت حنظله (ﷺ) شهادت:

احد کې مشهور صحابي حضرت حنظله (ﷺ) هم له رسول الله (ﷺ) سره ملګری و، دجنګ په تودو شیبو کې د هغه (حضرت حنظله ﷺ) او ابو سفیان ترمنځ مقابله شوه، حضرت حنظله (ﷺ) غوښتل ابوسفیان قتل کړي، خو له شانه "شدادبن اسود" په هغه ګذار وکړ او شهید یې کړ، رسول الله (ﷺ) وفرمایل:

مافر بنتې لیدې حضرت حنظله (ﷺ) ته یې د "ابر" په اوبواو دسپینوزرولوښو کې غسل ور کاوه،

کله چې دهغه له میرمنې پوښتنه شوه؛ معلومه شوه چې دجنابت په حالت کې جهاد ته تللی و اوبیا په هم هغه حالت کې شهید شوی و، (ابن اسحاق) دنومورې میرمن "جمیله" نومیده اوصحابیه وه، دمنافقینو دمشر ابن ابی خوروه (روض الانف واصابه)

په کومه ورځ چې حضرت حنظله شهید کیده، په هم هغه شپه یې میرمنې خوب ولید، چې داسمان یوه دروازه بیرته شوه، حنظله په

هغه دروازه ننوت، دهغه دننوتو وروسته دروازه بنده شوه، میرمن یې پو شوه چې نوموړی ددې نړۍ څخه روان دی.

دجنګ پای ته رسیدو وروسته دنوموړي جسد ومونډل شو، دسرنه یې اوبه څڅیدلې (وض الانف ۲ټوک ۱۳۳مخ)

په همدې وجه حنظله (رضي الله عنه) دغسیل الملائکه په لقب مشهور شوی

دحنظله (رضي الله عنه) پلار "ابوعامر" فاسق درسول الله (ﷺ) په مقابل کې جنګیده، حنظله (رضي الله عنه) درسول الله (ﷺ) نه دخپل پلار دوژلو اجازه ووغوښته خو رسول الله (ﷺ) منع کړ (رواه ابن شاهین واسناده حسن، واصابه ترجمه حنظله بن عامر)

دغشو ویشتونکو سرغړونه:

رسول الله (ﷺ) دغشو ویشتونکو یوه ډله دیوې درې یا چول ساتنې او څارنې په موخه کینولې وه، هغوئ کله ولیدل چې مسلمانان په جنګ کې برلاسي شول او دغنیمتونو په ټولولو لګیادي، هغوئ هم له خپل ځایه دښکته ورتلو اراده وکړه، دهغوئ مشر عبید الله جبیر (رضي الله عنه) هغوئ له ښکته تلو نه منع کړل او ورته وی ویل: رسول الله (ﷺ) تاسو ته حکم کړی دی چې له دې ځایه بل لورته مه ځئ! خو هغوئ منع نشول اودجنګ میدان ته ور ښکته شول

دعبیدالله بن جبیر او دهغه لسو ملګرو شهادت:

دهغوئ دښکته کیدو وروسته هلته یواځي عبد الله بن جبیر (رضي الله عنه) اوله هغه سره څو ملګري تم شول، نور و سنګر تخلیه شو، ددې سرغړونې له امله ناڅاپه دسوبې لوری واوښت، خالد بن ولید چې د مشرکانو دمیمنه لوري قومنده په لاس کې لرله، ولیدل چې سنګر خالي دی له شاه نه په مسلمانانو حمله وکړه، هلته عبد الله بن جبیر (رضي الله عنه) دلسو ملګرو سره یوځای یې شهید کړ.

دمصعب عمیر (رضي الله عنه) شهادت:

مشرکانو د ناڅاپه حملې وروسته دمسلمانانو صفونه مات شول، تردې پورې چې دخدای (ﷻ) دښمنان ترڅو رسول الله (ﷺ) نژدې شول، دمسلمانانو بیرغ پورته کونکی مصعب بن عمیر (رضي الله عنه) چې رسول الله (ﷺ) ته نژدې وه، هغه دکافرانو سره تر هغه مقابله وکړه، څو شهیدشو، دهغه وروسته بیرغ رسول الله (ﷺ) حضرت علي (رضي الله عنه) ته ورکړ، داچې مصعب بن عمیر (رضي الله عنه) دشکل صورت له پلوه درسول الله (ﷺ) سره مشابه و، کوم شیطان دا افواه ګډه کړه کړه، چې رسول الله په شهادت رسیدلی. په دې سره مسلمانانو کې نهیلې او اضطراب خور شو، صحابه (رضي الله عنهم) ورخطاء شول، روحیات یې مات شول په دې ورخطایې کې ددوست او دښمن

ترمنځ توپير او تميز ګران و، په يوبل يې تورې چلولې.

دمسلمانانو په لاس دحذيفه (رضي الله عنه) دپلار شهادت:

په دې کې دحضرت حذيفه (رضي الله عنه) پلار (يمان رضي الله عنه) هم د ورخطايې په وجه دمسلمانانو دتورو تربريدونو لاندې راغی، حذيفه (رضي الله عنه) خپله د ډېر لرې نه کتل چې پلار يې د مسلمانان د بريدونو لاندې دی، نوموړي چيغه کړه: دخدای بنده ګانو! دا ځما پلار دی، خو دتورو په شور او زوږ کې دهغه غږ کله چا اوريده بالاخر هغه (يمان رضي الله عنه) شهيد شو، څه مهال چې مسلمانانو ته معلومه شوه چې دوئ د حذيفه پلار وژلی دی، زيات پېښمان شول، ټولو وويل: په خدای (جل جلاله) سوګند مونږ نه و پيژندلی. حذيفه (رضي الله عنه) هغوئ ته وويل: يغفر الله لکم وهو ارحم الرحمين.

الله به تاسي ته ښښنه وکړې، هغه زيات مهربان دی.

رسول الله (ﷺ) غوښتل هغه ته ديت ورکړي، خو حذيفه (رضي الله عنه) دديت اخيستلو نه انکار وکړ، په دې سره درسول الله (ﷺ) په زړه کې دحذيفه (رضي الله عنه) قدر نور هم سيواه شو (فتح الباری ۷ټوک ۲۸۹ مخ زرقانی ۲ټوک ۳۲مخ)

درسول الله (ﷺ) بې مثاله استقامت:

دخالدبن وليد ناڅاپه حملې وروسته ډېر زړوراوجنګيالي هم دخپلو ځايونو نه وښوريدل، ليکن رسول الله (ﷺ) ديو اينچ اومره هم له خپل ځايه ونه ښوريد او نه پرې تزلزل راغی اوڅنګه راتلای شو، هغه دالله (جل جلاله) رسول و اوښکاره ده چې دالله (جل جلاله) بزدله نه وي، غر به وښوري خو دالله (جل جلاله) استازي اوپيغمبران له خپل ځايه دجنګ په شيبو کې نه ښوري، يو پيغمبر يواځې دټولې نړۍ دخلکو نه زيات زړوري، په دلايل بيهقي کې دمقداد (رضي الله عنه) روايت دی:

فَوَ الَّذی بَعَثَه بالحقِ ما زالت قدمه شبراً واحداً وَاِنّه لَقِی وَجهَ العدوِ وَيَفِیُ اَلَيه طَائِفَةٌ من اصحابه مَرّةً وَتَفتَرِقُ مَرّةً فَرُبَمَا رأيتُه قائماً يَرمِی عَن قَوسه وَيَرمِی الحَجرِ حَتی انحازوا عنه (زرقانی ۲ټوک ۳۴مخ)

سوګند دی په هغه ذات چاچې رسول الله (ﷺ) له حق سره يوځای راليږلی، يوه ولويشت هم له خپل ځايه ونه ښوريده، بيشکه ددښمن په مقابل کې کلک او ثابت قدم وولاړو، دصحابه وو يوه ډله به کله يو خو او کله بله خوا لاړه اوبيا به راغله؛ ما څو ځله ليدل چې رسول الله (ﷺ) تنها و، غشي يې ويشتل او تيږې يې ويشتلې تردي چې دښمن له رسول الله (ﷺ) نه په شاه شو.

درسول الله (ﷺ) ساتونکي:

ابن سعد وايي: په ورځطايې او ګډوډۍ کې څورالس صحابه درسول الله (ﷺ) سره تړپايه ولاړول، په هغوئ کې اووه مهاجر وو او اووه انصار وو.

دمهاجرو نومونه :

۱-ابوبکر صدیق (رضي الله عنه)

۲-عمربن الخطاب (رضي الله عنه)

۳-عبدالرحمان بن عوف (رضي الله عنه)

۴-سعدبن ابی وقاص (رضي الله عنه)

۵-طلحه (رضي الله عنه)

۶-زبیربن العوام (رضي الله عنه)

۷-ابو عبیده (رضي الله عنه)

دانصارو نومونه:

۱-ابو دجانه (رضي الله عنه)

۲-حباب بن منذر (رضي الله عنه)

۳-عاصم بن ثابت (رضي الله عنه)

۴-حارث بن صمه (رضي الله عنه)

۵-سهیل بن حنیف (رضي الله عنه)

۶-سعد بن معاذ (رضي الله عنه)

۷-اسید بن حضیر (رضي الله عنه)

په مهاجرو کې حضرت علی (رضي الله عنه) هم و، دهغه نوم په دې ندی یادشوی چې هغه ته دمصعب بن عمیر (رضي الله عنه) دشهادت وروسته رسول الله (ﷺ)بیرغ ورکړ، هغه په جهاد اوقتال لګیاوو.

دا څوارلس صحابه وو(رضي الله عنهم) درسول الله (ﷺ) سره یوځای وو، خوکله، کله به ځینې په څه وجه یا دبل مجاهد دمرستې لپاره لاړل،خو بیا ژر بیرته راتلل،له دې وجې کله به درسول الله (ﷺ) دولس کسان پاته شول(څنګه چې په صحیح بخاري کې دبراء بن عازب نه روایت دی) او کله به اووه پاته شول(څنګه چې په صحیح مسلم کې دانس بن مالک نه روایت دی)

دمحدیثینو په نظر داوقاتو او احوالو داختلاف په وجه درسول الله (ﷺ) دساتونکو او ورسره دحاضر و صحابه وو، په باب مختلف روایتونه راغلي، دهر راوي روایت دخپل ،خپل وخت په لحاظ دی، کله په دولس وو، کله به یوولس اوکله اووه تنه درسول الله(ﷺ) ددفاع لپاره ولاړول، لله الحمد ټول روایتونه یو دي، پکې تعارض نشته.

(تفصیل لپاره فتح الباری ۷ټوک ۲۷۷مخ)

نوربیا .....

مولوي عبدالهادي(مجاهد)

د جهادي خپرونو پر مفاهيمودنوي غور ضرورت

په افغانستان باندې د امريکا تر بيرغ لاندې د غرب يرغل يوازې د افغانانو پر خاوره او سياسي استقلال يرغل ندی، بلکه دا يو هر اړخيز يرغل دی چې دخاورې د نيولو او د افغانانو د سياسي استقلال د سلبولو تر څنګ د افغانانو دين، فکر، اخلاق، ټولنيز جوړښت، ټولنيز ارزښتونه او د آزادۍ، غوښتنې او آزادۍ پالنې روحيه هم تر ګوزار لاندې نيولې ده، ځکه چې يرغلګر پوهيږي چې همدغه ديني، اخلاقي او ټولنيز ارزښتونه دي چې تل يې افغانان د دښمن په خلاف د مقابلې په صف کې درولي دي.

پدې جګړه کې چې د خاورې آزادول او د سياسي استقلال بېرته ګټل له افغانانو څومره هلې ځلې او قرباني غواړي له دين، فرهنګ او ټولنيز ارزښتونو څخه دفاع له افغانانو څخه تر هغو ډېرې علمي، فکري، فرهنګي او نورې لارښوونکې او څېړنيزې هلې ځلې او ستړياوې غواړي، ځکه چې زمور جګړه د کوم شډل او بې فرهنګه دښمن په خلاف نه ده، بلکه مور د داسې دښمن په خلاف په جګړه اخته يو چې د خپل علم، فکر، فرهنګ، ټکنالوژۍ او پراخو او د قيقو

پلانونو او سياستونو په زوريې تقريباً ټوله نړۍ لاندې کړې ده. له همدې امله بايد زمور جهادي مطبوعات او زمور فکري ادبيات زمور د جهاد او مبارزې د لارويانو کې داوږتيا پيدا کړي چې هم د جګړې په ډګر کې په مېرانه او شعوري ډول د دښمن مقابله وکړای شي، او هم په پوهه، مهربانۍ او حکمت خپل ولس په ځان پسې روان کړای شي.

زمور مطبوعات او خپرونې بايد د اسلامي نړۍ پر خلاف د روانې هر اړخيزې صليبي جګړې په تر ټولو خطرناکې مرحلې کې د جهاد بهير لاڅپاند کړي، او د مجاهدينو د لارښوونې په مقصد هغوئ ته داسې خپرونې ولړي چې د هغوئ ارمانونه، تګلاره او اهداف ورته روښانه کړي، او له دښمن سره د تعامل لپاره داسې منهج ورته وړاندې کړي چې د (ولاء او براء) ټولې غوښتنې او حکام ورکې په رانه ډوَل بيان شوې وي.

دغه ډول خپرونې له انحراف څخه د جهاد او مجاهدينو د ژغورلو وسيله او د جهاد د لارويانو او مؤمن ولس شديد ضرورت دي، ځکه چې په ټوله نړۍ کې د دښمن ميډيا او

مطبوعاتو د امریکا او نړیوال صهیونیزم د طرحه شوو پلانونو پر اساس د اسلام او جهاد د مفاهیمو په تحریف پسې راخیستې ده. غربي او په اسلامي هیوادونو کې په غرب پورې تړلې میډیا او مطبوعات ټول هڅه کوي چې د اسلام مفاهیم داسې تحریف، تفسیر او تعبیر کړي چې له مسیحیت، مادیت، لیبرالیزم او ډیموکراسیې سره یې هیڅ توپیر پاتې نشي. اوجهاد چې په اسلام کې تر ټولو لوړ عبادت (ذروة سنام الاسلام) دی په (تروریزم) او (وراکاری) بدنام کړي. تر څو د اسلامي امت ځوانان پر دغه عبادت بې باوره او له خپل امت څخه د دفاع کولو د مسؤولیت له احساس څخه یې د انحرافونو، مادیاتو او شهوتونو په لور بې لارې کړي؛

غرب د مسلمانانو په خلاف په فکري جګړې او د اسلام او جهاد د شرعي مفاهیمو په تحریف کې یوازې نه دی، بلکه ډیر شرعي علم ته منسوب خو د اسلام له روح څخه ناخبره ملایان، مفتیان، پیران، د مدارسو مسؤولین او تش په نامه د اسلامي تنظیمونو منسوبین یې هم له ځان سره ملګري کړي دي، او د هغوئ په وسیله د امت ځوانان او عام ولس د مجاهدینو له مرستې او ملاتړ څخه ایساروي، تر څو دیرغلګر و کفارو په مقابل کې جنګیدونکي مجاهدین د مسلمان امت له ملاتړ څخه محروم کړي.

د دښمنانو له طرفه د اسلام او جهاد مفاهیمو د تحریف د مخنیوي تر څنګ دېته هم شدید ضرورت لیدل کېږي چې په خپله مجاهدین او د اسلامي نظام د قائمولو لپاره مبارزین د اسلام په حقیقت ځانونه ښه پوه کړي، د جهاد شرعي حیثیت ورته واضح کړای شي، او د جهاد او فکري مبارزې د هرې مرحلې اهداف او تګلارې ورته تشخیص او بیان کړای شي، تر څو په پوره بصیرت او درایت د دښمن هر اړخیزه مقابله وکړي، او د حالاتو لوړ او ځوږ هغوئ د جهاد له دوام څخه ستومانه نه کړي.

زمور جهادي ځپرونې باید له سطحیت څخه ووځي او د لاندې اهدافو او مقاصدو لپاره ښه پراخه او ژور کار وکړي :

۱ – جهادي ځپرونې باید کوښښ وکړي چې افغان مجاهد ملت د اسلام او جهاد له حقیقي مفاهیمو او مقاصدو نور هم ښه باخبره وساتي، او پدې هکله د اسلام د دښمنانو خوا د اسلامي شریعت او جهاد په خلاف راولاړو شوو شکوکو او شبهاتو ته شرعي علمي او منطقي ځواب ووایي، ځکه چې دښمنان هڅه کوي د ډول ډول وسوسو او شبهاتو په مطرح کولو نوی نسل د اسلامي شریعت د تطبیق او د جهاد د فریضې په اړه شکمن کړي، او بالعکس یې (سولې)، (عدم تشدد) (ډیموکراسۍ) او نورو غربي افکارو او نظریاتو د وربللو له لارې د اسلام په مخالفت کې په خپل صف کې ودروي.

۲ – جهادي ځپرونې باید نوي نسل ته د دې حقیقت وضاحت وکړي چې جهاد د الله ﷻ له لوري یوه لویه فریضه ده چې مسلمانان شرعاً د هغې په ترسره کولو مکلف دي، او هم باید دا حقیقت خلکو ته څرګند کړي چې مسلمانان ټول یو امت دي. او اسلامي نړۍ د هغوئ مشترک کور دی چې له هغه څخه دفاع او په هغه کې د اسلام د نظام حاکمول د ټولو مسلمانانو مشترکه وظیفه ده، او پر همدې اساس د تولې نړۍ ربښتني مجاهدین سره ورونه، د یوه هدف

خاوندان او د يوې لارې لارويان دي. ټولې هغه هڅې چې مسلمانان يو له بله سره بهلوي. او ټول هغه استعماري پلانونه چې اسلامي نړۍ يې وېشلې او ټوټه ټوټه کړې ده په حقيقت کې د اسلام او مسلمانانو دله وړلو اساسي عوامل دي چې مسلمانانو ته د هيڅ اعتبار وړ نه دي. او د هغو د له منځه وړلو لپاره هم آهنګ کوښښونه يو شرعي ضرورت او د وخت مبرمه تقاضا ده.

د اسلامي نړۍ مجاهدين شرعاً پدې مکلف دي چې د نړۍ په هر ګوټ کې د خپلو مظلومو او مستضعفو مسلمانو وروڼو مرستې ته دامکان تر حده ځان ور ورسوي، او د سيمې مجاهدين هم بايد ورغلي مجاهدين د حالاتو او امکاناتو په پام کې نيولو سره سم په خپلو صفونو کې تنظيم کړي. دا داسې يو شرعي حکم دی چې تر ټولو سياسي او سيمه ييزو مصالحو بايد لوړ وګڼل شي. الله ﷻ د مسلمانانو د دغه شرعي مسؤوليت په اړه فرمايي: (وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ) الأنفال: ۷۲ ژباړه: (او که چېرې مؤمنان له تاسې څخه په دين کې مرسته وغواړي نو پر تاسو د هغوئ مرسته کول فرض دي، مګر د هغه قوم په مقابل کې نه چې ستاسې او د هغوئ تر منځ کوم د سولې تړون موجود وي).

رسول الله ﷺ هم فرمايي: (المسلم أخو المسلم، لايخونه، ولايكذبه، ولايخذله، ولايظلمه، ولايسلمه، كل المسلم على المسلم حرام، عرضه، وماله، ودمه، التقوى هاهنا – وأشار إلى القلب – بحسب امرىء من الشر أن يحقر أخاه المسلم) رواه مسلم.

ژباړه: (مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به خيانت ورسره کوي، نه به درواغ ورته وايي، نه به يې دښمن ته يوازې پرېږدي، نه به ظلم ورباندې کوي او نه به يې دښمن ته ورسپاري، د مسلمان هر څه پر بل مسلمان حرام دي، ناموس يې، مال يې او وينه يې، تقوى دلته ده – او بيا پې زړه ته اشاره وکړه – دا يو چا لپاره همدا شر بس دی چې خپل مسلمان وروڼور سپک وګڼي).

دښمنان غواړي مجاهدين د قوم، منطقې، فقهي – مذهب او د فکر پر بنسټ پر بيلابيلو ډلو و ويشي، اهداف او توجهات يې يو له بل څخه بېل معرفي کړي، پداسې حال کې چې غربيان بيا په خپله دا يو ځای کيدلو او په خپلو منځونو کې د سرحدونو د له منځه وړلو په لور روان دي، شرقي او غربي اروپا چې يو وخت يوه له بلې سره په اوږدې جګړه کې اخته وې او س پې تقريباً ټول اروپايي هيوادونه په يوه (اروپايي اتحاد) کې سره يوځای شوي چې مشترک پارلمان، مشترکه سکه، مشترک پوځي تړون او د اسلام په خلاف مشترک موقف لري، او په مشترک ډول په ټوله اسلامي نړۍ کې د حقيقي مسلمانانو په خلاف جنګيږي.

۳ – جهادي خپرونې بايد مسلمانان وهڅوي چې په ټولې نړۍ کې د مسلمانانو له ملي او نړيوالو قضاياؤ څخه دفاع وکړي، او هم په افغانستان او سيمه کې د ټولو هغو سياسي، فکري، اجتماعي، اقتصادي، ادبي، فرهنګي او نورو تشکيلاتو په اړه چې د اسلام دښمنو ځواکونو او هيوادونو له لوري رامنځته شوي خپلو لوستونکو ته کره معلومات وړاندې کړي، او د هغوئ له هغو پروګرامونو، توطيو او فعاليتونو خپل مسلمان ولس خبر کړي چې له اسلام او

اسلامي نظام سره يې د مخالفت لپاره دلته په کار اچولي دي، ترڅو د پردیو لخوا دغه ګومارل شوي (سیکولر) عناصر مسلمانانو ته رسوا شي، او د تباه کوونکو فعالیتونو مخه يې ونیول شي، او داځکه چې نن کفارو ټوله اسلامي نړۍ د هغو اشخاصو، مؤسساتو، حکومتونو او فکري جهتونو په مټ د ځان لپاره تسخیر کړې چې ځانونه مسلمان او د اسلامي امت برخه بولي خو کار د کفارو لپاره کوي.

۴ – جهادي خپرونې باید اسلامي ادب ته د ودې ورکولو او د ځوانو لیکوالو، شاعرانو، ادیبانو او مفکرینو د استعدادونو د غوړیدا لپاره د زمینې د برابرولو لپاره پراخ کار له خپلو مهمو اهدافو څخه وګڼي، او د ځوانو استعدادونو پر مخ د مسلمان ولس د احساساتو او ارمانونو د اظهار او بیان جرأتمن منبرونه رامنځته کړي. ترڅو وکولای شي د منحرفو، پردي پالو، خرڅو شوو، کرایي، مبتذلو او د غرب لخوا د توظیف شویو شاعرانو او لیکوالو د زهر شیندلو مخه ونیسي، او مسلمانه ټولنه د هغوئ د ترجمه شویو، وارداتي او فرمایشي لیکنو له منفي تأثیره وژغوري.

۵ – د مسلمانو ټولنو پر فکري حریم د غرب د فرهنګي یرغل مقابله هم باید د جهادي خپرونو له مهمو اهدافو څخه وګڼله شي. او پدې ډګر کې باید د اسلامي فکر بډایه او اصیل فکري ادبیات د ځوان نسل مخې ته کښودل شي، ترڅو د غرب د سیکولر و او الحاد ځپلیو وارداتي افکارو او نظریاتو مقابله وکړای شي.

همدا اوس په افغانستان کې د اشغالګر صلیبي اتحاد هر شریک هیواد خپلو اهدافو ته د رسیدلو او افغانانو ته د خپل فرهنګ د راصادرولو په مقصد په مرکز او بیلابیلو ولایاتو کې په لسګونو مطبوعات، راډیوګاني او تلویزونونه جوړ کړي، او په زرګونو لیکوالان، خبریالان او د قلم خاوندان يې ورکې په کار ګومارلي دي، ترڅو د افغانستان په فکري او فرهنګي اشغال کې د یرغلګرو مرسته وکړي. دغه خرڅ شوي لیکوالان او د رسنیو او مطبوعاتو خاوندان پداسې یو لوی خیانت او ملي جرم اخته دي چې ضرر يې په افغانستان کې اسلام او مسلمانانو ته د صلیبیانو تر پوځي جګړې ډیر خطرناک دی.

جهادي خپرونې باید هڅه وکړي چې په خپل فکري او مطبوعاتي جهاد د هیواد مطبوعاتي ډګر چې د پردیو لخوا اشغال شوی ببر ته ازاد کړي، او ملت ته هغه مفاهیم او معلومات وراندې کړي چې د مؤمن ملت د آزادۍ روحیه تمثیل کړي، دیني، ملي، تاریخي او اجتماعي ارزښتونه يې خوندي کړي، او د راتلونکي لپاره د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د آزادۍ، خپلواکۍ، پرمختګ او سالمې پوهې په لوري د هیواد د بچیانو لارښوونه وکړي.

د جهادي خپرونو صف په کې باید ټولو هغو پوهو، دردمنو با احساسه لیکوالانو، مطبوعاتیانو، ناشرانو، د اسلام د خپرولو په لار کې پانګوونکو او د فکر او شرعي علم خاوندانو ته ځای ورکړ شي چې مسلمانان ټول یو امت او اسلامي نړۍ د هغوي مشترک کور ګڼي، او له هغه څخه دفاع او په هغه کښې د اسلامي نظام حاکول د ټولو مسلمانانو مشترکه وظیفه بولي. او په ټولې نړۍ د اسلام له ارزښتونو څخه دفاع د خپل شرعي مسؤولیت په حیث منې.

پرون چې د کمونیزم په مقابل کې مسلمانانو یو جهادي موقف درلود او له منطقوي، ژبنې او مذهبي

توپیرونو پرته یې دیوه امت په څېر د دښمن په خلاف جهاد کاوو څنګه یې هم افغانستان او هم نړۍ د کمونیزم له شر څخه خلاصه کړه! که نن هم د نړیوال صلیبي یرغل په مقابل کښې په ګرده نړۍ کښې یو جهادي دریځ ولرو، او په همغږۍ د دښمن مقابله وکړو، له تیرو ترخو تجربو درس واخلو او د راتلونکي لپاره داسې روښانه تګلاره ولرو چې مسلمانان هیله من او پر ځان باوري کړي نو لیرې نده چې اسلامي نړۍ به د غرب له شر څخه هم خلاصه شي.

۶- جهادي خپرونې باید د ورځنیو خبرونو، تبصرو، مضامینو او سیاسي تحلیلونو تر څنګ د کفر او ګمراهۍ معاصرو شکلونو لکه (ډیموکراسۍ)، (لیبرالیزم)، (وضعي قوانینو)(نشنلیزم)، (وطنیت)، (هیومنیزم)، (ګلوبلایزیشن)، (دښځو غربي ډوله آزادي)، (غربي ډوله بشري حقوق)، (سیکولریزم)او د نورو کفري نظریاتو څېړنې او نقد ته هم پوره توجه وکړي، ځکه چې غرب په اسلامي نړۍ کې د همدغو نظریاتو د خپرولو له لارې پر اسلام د ملیونونو مسلمانانو باور کمزوری کړی، او هغوئ یې په خپل ملاتړ د ریښتیني اسلام په خلاف د جګړې په ډګر کې درولي دي، او د همدوئ په لاس یې د اسلامي شریعت د پلي کېدو مخنیوي کړی.

۷- دجګړې له ډګره دغربي قواوو تېښته باید په مورۍ کې دا کاذبه خوشباوري او غرور پیدا نه کړي چې جګړه مو وګټله او نور به نو خیر او خیریت وي او دستر ګو په رپ کې به اسلامي نظام قائم کړای شو، دتېرو دیارلسو کلونو جګړه مو چې دښمن یې تېښتې ته اړ کړ پوازې د جهاد یوه مرحله وه. تر دې وروسته دجهاد نورې مهمې مرحلې پاتې دي، دتته دښمن دومره چور ګوري وپستلي او دومره هګۍ یې اچولې دي چې راتلونکي څو نسله به یې داسلامي نظام دقائمېدلو د مخنیوي هڅو ته په بېلابېلو شکلونو ادامه ورکوي، غرب به په فکري، سیاسي، اقتصادي او تبلیغاتي ډګرونو کې دهغوئ تر شا درپېري، او دوئ به په ولس کې دخپلو ریښو د غځولو او خپلو نظراتو د خپرولو لپاره په پراخه پیمانه کار ته دوام ورکوي.

داسلامي نظام د قائمولو او چلولو لپاره د شخصیتونو روزل، د اسلام حقیقي مفهیم خلکو ته رسول، په فکري او تعلیمي لحاظ د وطن بیا ودانول، په بېلابېل ډول سره وېشل شوی ولس بېرته سره یو کول، نېه حکومتداري رامنځته کول، هېواد په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو درول، د ژوند د ټولو چارو او ابعادو لپاره په معاصره بڼه د اسلامي قوانینو برابرول او بیا د هغو پلي کول، د بې دینۍ، سیکولریزم، غربپالنې، بدعتونو او وضعي قوانینو په منځه وړل او په زرګونو نور لوی لوی کارونه ټول زمورۍ د راتلونکي مرحلې د جهاد پراوونه دي چې باید د ترسره کولو لپاره یې په خان کې ورتیا پیدا کړو. که دیادو شویو کارونو د ترسره کولو لپاره په ځان کې واقعي ورتیا پیدا نه کړو او یواځې په شعارونو او دعوو اکتفا وکړو، نو پدې کې هېڅ شک نشته چې د روان جهاد لاسته راوړنې به مو بېرته له لاسه ځي، ځکه چې دښمن مو تر جګړې د ورسته مرحلې لپاره پوره تیاری لري. نو په کار ده چې جهادي مطبوعات مو دغو ټولو مفاهیمو ته پوره پام وکړي، او په پراخه پیمانه یې مجاهدینو ته په مسلسل دول ورتلقین کړي.

مفتي ابو محمد (حقاني)

د جهاد فقهي مسایل

جهاد کې محرمات او مکروهات

نهمه برخه

دجهادي مسایلو دځیرنې دې نهمه برخه کې به دا تر بحث لاندې ونیسو چې دیوې الهي فریضې په توګه جهاد کې کوم کوم محرمات او کوم مکروهات دي؟ ددې لپاره چې دا فریضه مو په سمه توګه انجام کړي وي دمحرماتو او مکروهاتو ځینې موارد به پرله پسې تر بحث لاندې ونیسو !

الف: اشهر الحرم یا درجب المرجب ،ذي قعده ،ذي الحجه او محرم الحرام په څلو رګونو میاشتو کې چې دې ته اشهر الحرم یا دحرم میاشتې وایي، داسلام په لومړیو کې دې دحرم میاشتو کې دمسلمانانو لخوا جهاد ددې آیتونو په اساس ممنوع او حرام و ،لکه چې فرمایي: {إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ} سورة التوبة / 36. ، وقوله تعالى : {يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ}سورة البقرة / 217 .. خو دجمهورو فقهاوو په قول لکه چې امام احمد بن حنبل رح هم پرې تصریح کړې روسته بیا دې اشهر الحرم کې د جهاد د حرمت دا آیتونه منسوخ شول او پدې کریمه آیت سره همدې میاشتو کې هم دجهاد جواز او مشروعیت ثابت او دجهاد دپیل دحرمت هغه آیتونه منسوخ شول ، لکه چې الله جل جلاله فرمایي : { قَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ) سورة التوبة / 5. همداسې د حرم میاشتو کې دجهاد دحرمت حکم دمنسوخ کیدو لپاره دویم ناسخ پخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا د(طائف) غزوه ترسره کول و، چې په مشهور قول د(ذي قعدې) دحرم میاشت کې یې کړې وه دویم دلیل دی ،نوددې نه څرګنده شوه ، چې د حرم میاشتو کې دجهاد دحرمت حکم داسلام په لومړنیو وختونو و،چې بیا ددې فوق الذکر کریمه آیت

او د طائف غزوه چې (ذیقعدې) میاشت کې وشوه، حرمت یې منسوخ کړ، او اوس یې جواز مونږ ته په توارث کې پاتې دی.

اوددې اشهر الحرم په هکله دویم قول دادی چې دې محرمو میاشتوکې دجهاد دپیل حرمت او پکې دجهاد څخه دممانعت حکم نن هم پر خپل ځای پاتې دی او نسخ پکې نده راغلې ،چې دلیل یې دحضرت جابر رضی الله عنه دا روایت دی چې پکې راغلې : عَنْ جَابِرٍ قَالَ: لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو فِي الشَّهْرِ الحَرَامِ إِلا أَنْ يُغْزَى ، أَوْ يَغْزُوَ حَتَّى إِذَا حَضَرَ ذَلِكَ أَقَامَ حَتَّى يَنْسَلِخَ. "أخرجه ابن جرير الطبري في تفسيره (4 / 300 ـ ط دار المعارف) ، وإسناده صحيح. یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د حرم میاشت کې غزا نه کوله مګر که چا به پرې حمله وکړه او یا به یې غزا کوله نو چې د حرم میاشت به راغله جګړه به یې متوقف کړه څو به چې دحرم میاشت ووتله، نو بیا به یې پیل کړه .....

خو مخکې مو د راجح قول (رجب ،ذې قعده ،ذالحجه او محرم)میاشتو کې دجهاد دمشروعیت په هکله راجح قول ذکر کړ،چې جمهور فقهاء یې غوره بولي او استدلال پر نصوصو باندې کوي او وایي چې دې میاشتو کې دجهاد حرمت د اسلام دلومړنیو وختونو خبره وه، او س دا حکم منسوخ دی ،همداسې د (امام سرخسي په المبسوط)کې دا سې لیکلې ،چې مونږ د(کلبي) قول نه اخلو، چې ګوندې ددې څلورو میاشتو حرمت لا هم پر ځای اونه دی منسوخ شوی ،بلکې پدې باب کې د(مجاهد)په قول استدلال او اخذ کوو، چې هغه وایي چې دې میاشتوکې دجهاد تحریم په نومورې آیت او نبوي غزوي سره نسخ دی، پدې متن سره چې ((وَكَانَ الكَلْبِيُّ رحمه الله يَقُولُ ذَلِكَ لَيْسَ بِمَنْسُوخٍ وَلَسْنَا نَأْخُذُ بِقَوْلِهِ فِي ذَلِكَ بَلْ بِمَا رُوِيَ عَنْ مُجَاهِدٍ رحمه الله قَالَ: النَّهْيُ عَنْ الْقِتَالِ فِي الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ مَنْسُوخٌ نَسَخَهُ قَوْلُهُ تَعَالَى {اقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ}. وَقَدْ بَيَّنَّا أَنَّ سُورَةَ بَرَاءَةَ مِنْ آخِرِ مَا نَزَلَ فَانْتَسَخَ بِهِ مَا كَانَ مِنْ الْحُكْمِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {يَسْأَلُونَكَ عَنْ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ} الآيَةَ.)) (المبسوط للسرخسي 10/ 26 ط دار المعرفة)

د ممانعت او حرمت داتول احکام د حرم دې میاشتو کې په هغه صورت کې وو ،چې دجهاد نیه تعرضي او پیل یې مجاهدین وکړي ،خو که چیرته ددفاع صورت و ،یعنې داسلام دشمنانو په مجاهدینو حمله وکړه، نو بیا دې صورت کې دې محرمو میاشتو کې دټولو په اجماع سره جهاد روا او کوم شرعي حرج پکې نشته، چې دې لاندنیو کتابونو ددې مسئلې دجواز صورت را نقل کړی دی (المبسوط 10 / 2 ، 3 ، ونهایة المحتاج 8 / 45 ، وروضة الطالبین 10 / 204 ، وکشاف القناع 3 / 37.)

البته د طائف غزوه چې دحرم میاشتو کې شوې ،یو ثابت حقیقت دی ،خو هغه چې په کومه میاشت کې شوې ،عام فقهي موسوعات یې، د ذیقعدې میاشت بولې، خو دامام سرخسي په المبسوط کتاب کې د طائف غزوه د محرم او صفر میاشتو کې ښودل شوې ، چې دا به هم یوځه سپیناوي ته اړتیا لري ،خو هغه چې زمونږ دمدعی لپاره بسنه کوي ، ددې څلور محرمو میاشتو څخه چې هره یوه میاشت صحیح وي او د طایف دا غزوه پکې ترسره شوې وي ،جوت ثبوت او مدعی مو پرې ثابتیږي، لکه دامام سرخسي رح د المبسوط)په لاندینې عبارت کې چې راغلې ده:

وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ { : غَزَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي الْمُحَرَّمِ لِمُسْتَهَلِّ الشَّهْرِ وَأَقَامَ عَلَيْهَا أَرْبَعِينَ يَوْمًا وَفَتَحَهَا يَعْنِي الطَّائِفَ فِي صَفَرٍ } وَفِي هَذَا دَلِيلٌ عَلَى أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِالْقِتَالِ فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ فَإِنَّ الْمُحَاصَرَةَ مِنْ الْقِتَالِ وَقَدْ رُوِيَ أَنَّهُ نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى الطَّائِفِ فَفِعْلُهُ بَيَانٌ أَنَّ مَا كَانَ مِنْ حُرْمَةِ الْقِتَالِ فِي الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ قَدْ انْتَسَخَ ،(المبسوط للسرخسي 10/ 26 ط دار المعرفة)

نور بیا .....

تنهایي له چاغوالي ډېره خطرناکه ده

په یوه نوې طبي څېړنه کې ویل شوی چې، تنهایي له چاغوالي ډېره خطرناکه ده. د چاغوالي په پرتله یوازېتوب دوه چنده د مرګ خطر لري. ساینس پوهان پر پنځوس کلنو او د زیات عمر دوه زره کسانو باندې له څېړنې وروسته دې نتیجې ته رسیدلي چې، یوازېتوب د چاغوالي په پرتله دوه چنده خطرناک او د مرګ لامل دی.

په برتانیه کې د یوې څېړنې په نتیجه کې ویل شوي چې، هر پنځم انسان ځان یوازې ګڼي. کارپوهانو ویلي چې له دې خطره د ځان ژغورنې په موخه باید له کورنۍ سره ژوند وشي.

ناکامه پروسه او کامیاب تبلیغات

حسن زوی

داچې دټول لویدیځ اوپه ځانګړې توګه امریکا په اسلامي نړۍ کې دخپلو ګټودخوندیتوب لپاره یوائنې لار پر اسلامي نړۍ د دیکتاتورانو یادجمهوري دولتونو په نوم جابرو اوزېښناکګرو نظامونو کې ویني نوځکه د دیمکراسۍ یا ولسواکۍ او هم د جمهوریت په نوم د زېښناکګرو نظامونو او یا د ظالمو دیکتاتورانو د مسلط کولو لپاره د امریکا په شمول ټول لویدیځ خپل ټول وسایل په کار اچوي؛ پدې لار کې بې حده زیات مصارف کوي او د خپلو دغو لاسپوڅو اشخاصو او غلامو نظامونو په ډېرې سپینې ستر ګۍ حمایت کوي ؛د فساد او ظلم نه ډک ددې نظامونو نه د حمایت له امله که بیا د نړۍ ټول ولسونه په دوئ لعنت وایې او ښه ډېر بدنامېږي هیڅ پروا یې نه ساتي

چې په تېرو ۱۳ کلونو او روان اوسنۍ حالت کې مورږ ددې هرڅه عیني شاهدان یو .

د خپلو نویولاسپوڅو د راوستلو په موخه په هېواد کې دانتخاباتو په نوم داوسنۍ ډرامې حقیقت مورږ ټولو هېوادوالو ته معلوم دی چې په هېواد کې دننه ګنو د سیاسي چارو ځېړونکو او شنونکو یې د اصل حقیقت نه پرده پورته کړی هم ده خو غربي رسنیو نړۍ ته داسې تصویر وړاندې کړ لکه چې دا انتخابات د سهیلي اسیا د افغانستان په ځېر جنګ او ګډوډیو ځپلي او په جنګ کې اخته هېواد کې د اشغالګرو تر چتر لاندې نه بلکې په کوم خپلواک با امنه اروپایې هېواد کې تر سره شوی وي .لویدیځې رسنۍ ډېر په شدو مدو وایې چې انتخابات ډېر بریالي وو ، د یادولو وړ امنیتي مشکلات پکې ندی رامنځته شوي ، افغانانو پکې په ډېر شوق ګډون وکړ او رایو ورکولو وړ ، ثبت شویو تنانو د نیمو نه زیاتو یانې ۷ میلیونه افغانانو خپلې رایې وکارولې .

بهرنو تلویزیونونو هغه اورده قطارونه هم بیا بیا وښودل چې پکې مېرمني او سړي په خپل نوبت رایو ورکولو ته منتظر ښکارېدل.

رسنیو دا انتخابات دوهمره کامیاب ښکاره کړل چې دامریکا او برتانې په شمول ګڼو لویدیځو دولتونوافغان ولس، د کابل د اداري امنیتي ځواکونو او د انتخاباتو کمیسون ته په کامیابو انتخاباتو ترسره کولو مبارکي ورکړه. او لکه چې په افغانستان کې دننه یو شمېر کړیو په انتخاباتو کې ګډون د طالبانو سره د ولس د مخالفت دلیل وګڼلو دا ډول د هېواد نه بهرون د اسلام په جامه کې ځینو اسلام بېزارو، لبرال اوسیکولر وګړو دا د اسلام د ردولو دلیل وبللو.

تر کومه چې د امنیت خبره ده نو سره له دې چې د کابو ۴ سوه زرو خواشاکي د پولیسو، فوځ او د استخباراتو تنان د امنیت تېنګولو لپاره ګومارل شوي وو خو بیا هم مجاهدین وتوانېدل چې په خپلو مخالفینو ۱۰۸۸ بریدونه ترسره کړي چې د ۶ سوونه پر زیاتویې پخپله د کابل اداري هم اعتراف وکړ.

هو! دا سمه ده چې ولسي وګړو ته انتخاباتو کې مرګ جوبله نده اوښتې؛ مجاهدینو دد ې نتخابات سبو تاڅ کول غوښتل نو ځکه اسلامي امارت په انتخاباتو کې د نه ګډون لپاره پر ولس غږ کړی و خو دا چې پدې ستر ولس کې یو شمېر وګړو دې غوښتنې ته مثبت ځواب ونه ویلو او په انتخاباتو کې یې ګډون وکړ نو د مجاهدینو په نزد یې وژل سزا نه وه نو ځکه طالبانو د خلکو را جمع کېدو په یو ځای هم حمله ونکړه حال دا چې د پلازمیني کابل په زړه کې چې په ډېرو حساسو ځایونو باندې په حملو کولو طالبان توانېدلي دي نو په ولایاتو او ولسوالیو کې خو ورته د رایو ورکولو مرکزونه ډېر اسان اهداف وو.

او دا چې ګیني رښتیا به هم د رایو ورکونکو شمېر ۷ میلیونو ته رسېږي او خپرې شوی شمېرې به ګیني حقیقي وی؟ ددې د دروغجنتوب لپاره که د دلایلو او شواهدو وړاندی کول او د مخکښو کاندیدانو په یو بل باندې د پراخو درغلیو کولو دعوې او ثبوتونه وړاندې کول پیل کړو نو خبره به ډېره اوږده شي بس د دې لپاره همدا یوه خبره بسیا کوي چې د رایو اچولو ډېر داسې مرکزونه وو چې دلس یادولس تنانو د ورتللو نه پس به تړې خلک بې له دې چې رای وکاروي راستانه شول او وبه ویل شول چې بکسونه ډک او د رایو ورکولو پانې ختمې شوې چې دا دې خبرې ډېر روښانه دلیل دی چې د یو ستر پلان له مخې وار دمخه بکسونه د جعلي رایو نه ډک شوي وو چې نو ځکه دا ویل پر ځای دي چې اوسنۍ لوبې ته انتخابات ویل د خلکو په ستر ګو کې د خاورو اچولو یوه ناکامه هڅه ده.

پاتې شوه د طالبانو د اسلام د ردولو او د روشن فکره اسلام د غوره کولو خبره نو دټولو حقیقي مسلمانانو او خصوصا افغانانو دا ایمان دی چې اسلام یو اسلام دی چې دلبر الزام او روشن فکرۍ پیوندونه د دې دین د مسخ کولو یو خطرناک نړیوال ستر پلان په عملي بڼه کې خپله وندې اخستل دي؛ ټولو ریښتونیو

مسلمانانو او په سر کې يې افغانانو ددې مذمومو هڅو پر ضد قربانئ ورکړيدی او ورکوي به يې .

افغان مؤمن ولس د طالبانو په لاس نافذ شوی اسلامي نظام ته د سوچه اسلامي نظام په نظر ګوري ځکه خو يې تر شا ولاړ دی او مجاهدين د همدې ولس د حمايت پر مټ د خدای په مرسته د دښمن پر ضد په جنګ کې برلاسي دي .

ددې نه انکار نشته چې د جهاد مجاهدينو او اسلام دښمنان په هېواد کې شته خو د دوئ شمېر له نيکه مرغه چې ډېر کم دی ، موږ په دعوې سره وايو چې افغان مؤمن مجاهد ولس ښه په شعوري توګه د اوسنيو انتخاباتو سره عملي پريکون کړی و او کومې شمېرې چې خپرې شويدي دا هيڅکله هم حقيقی نه شي کيدای .

افغانان پدې ډېر ښه پوهېږي چې اوسني انتخابات خپلو اهدافو ته د اشغالګرو د رسېدلو يو نا کام کوښښ دی ؛ ډاکټر عبدالله يا اشرف غنی هر يو چې د صدارت ماڼۍ ته ورسول شي دامريکا د ګټو ساتنې پاليسۍ کې به بدلون رانشي ځکه چې دا هر يو د امريکا علني خدمتګار تېر شوی نو د اشغالګرو ځواکونو او د دوئ د لاسپوڅو پر ضد د روان جهاد د سنګرونه به نور هم تاوده شي او د دوئ ټول اميدونه به د خاورو سره خاوری شي ان شاءالله تعالی

په مړې باندې د غسل نه مخکې تلاوت او د ښځې د ويښتانو ګومنځول

السلام وعليکم ورحمه الله وبرکاتُ ! ډېرو درنو د دين عالمانو ستاسو د زحمتونو څخه ډېره مننه ! زه دوه پوښتنی لرم اوله پوښتنه ؛ کله چه يو نفر مړ شی تر څو پوری چی غسل ورنکړی د قرآن کريم تلاوت جايز دی او که نه ؟ دوهمه پوښتنه : که چه يوه ښځه مړه شی پس له غسل څخه د هغی ويښتان بايد ګومنځ شی و که نه ؟ لله (ج) موتل مل شه بشارت

څو ب

بسم الله الرحمن الرحيم

په مړو باندې د قرآن د تلاوت په هکله د احنافو د علماؤ تر مينځ اختلاف نظر دی .

موسوعة الفقهيه د هنديه په حواله ليکي چې : د غسل څخه مخکې د قرآن تلاوت مکروه دی .

د خوست ولایت د مندوزو ولسوالي په اړونده سیمه کې د چریکي برید په مهال د جاسوسي اداري کارمند ظاهرشاه سخت تپیي شو. ۲۰۱۴-۰۴-۲۳

علي شیرو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د خوست ولایت د علي شیرو ولسوالي په چرګوتي سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي تراسه شوي. ۲۰۱۴-۰۴-۲۴

علي شیرو کې د اشغالګرو د اکمالاتو ټیکه دار ووژل شو

د خوست ولایت د علي شیرو ولسوالي په اړونده سیمه کې اشغالګرو ته د اکمالاتو ټیکه دار چې اول فاروق نومېده ووژل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۲۴

یعقوبیو ولسوالي- ودانۍ- په نارنجکو ووېشتل شوه

د خوست ولایت د یعقوبیو ولسوالي ودانۍ په ۳ نارنجکو ووېشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل.
۲۰۱۴-۰۴-۲۵

هوایي اډه په میزایلو ووېشتل شوه

د خوست ولایت مرکز ته نژدې هوایي اډه چې د بېرغلګرو ستر مرکز دی په ۲ میزایلو ووېشتل شو چې په تاکلي هدف ولګېدل او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۴-۰۴-۲۶

خوست مرکز ته نژدې چاودنې ۵ پولیس ژوند واخیست

د خوست مرکز ته خبرمه په متون سیمه کې کوزیانو کلي ته نژدې په پلیو پولیسو دماین چاودنې د ګوډاګي اداري ۱ پولیس وواژه او ۱ پولیس یې سخت ژوبل کړ. ۲۰۱۴-۰۴-۲۶

موسی خېلو کې ماین ۳۵ پولیسو ژوندواخیست

د خوست ولایت د موسی خېلوولسوالي په دسره سیمه کې د پولیسو په ګزمه د چاودنې له امله ۳ پولیس ووژل شول او ۴ نور پولیس مرګوني ټپیان شول. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

خوست مرکزته نژدې د چاودنې له امله ۴ عسکر ووژل شول

د خوست ولایت د مرکز اروند د صحرا باغ په هوایي اډه میزایل وتوغول شول چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل.وروسته عسکر هغه ځای ته راغلل چې میزایل تري توغول شوي وو چې چاودنه پرې وشوه او ۴ تنه عسکر یې ووژل او ۵ نور یې مرګوني ټپیان کړل. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

صبریو ولسوالی په ودانی بریدوشو

د خوست ولایت د صبریو ولسوالي په ودانی د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

درګی کې ماین ۱ پولیس وواژه

د خوست ولایت د درګی ولسوالي په نریزي سیمه کې د بنځ کړل شوي ماین چاودنې یو پولیس وواژه او یو بل پولیس یې سخت ژوبل کړ. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

ځاځي میدان کې پوسته په هاوان وویشتل شوه

د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالي په دنیو سیمه کې د دښمن پوسته د هاوان په ۶ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې پوره زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۹-۰۴-۲۰۱۴

قلندر کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د خوست ولایت په قلندر ولسوالي یو اربکی چې الف خان نومېږي د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

پکتیا

په زرمت کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په زاو سیمه کې د ګوډاګي اداري یو پولیس په دراز کوف په توپه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۱-۰۴-۲۰۱۴

زرمت کې په جګړه کې ۱ ټانک او ۱ رینجر تخریب شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په مقرب خېلوسیمه کې د اجیري اردو په موټریزه ګزمه وسلوال برید ترسره شو،په برید کې ۱ زغروال ټانک او ۱ رینجر موټر وویشتل شول چې پوره تخریب شول او عسکرو ته هم درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۱-۰۴-۲۰۱۴

زرمت کې د ولایت شورا د کاندید نماینده مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي د مموزو په سیمه کې دولایت شورا د کاندید محمد حکیم وزیري نماینده قادراغاله مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۱-۰۴-۲۰۱۴

څمکنو کې په موټر چاودنې اربکی قومندان وواژه

د پکتیا ولایت د څمکنو ولسوالي په لوړه سیمه کې د اربکیانو موټر په ماین والوزول شو چې له امله یې اربکی قومندان محمد ووژل شو،له دې علاوه چاودنې ۲ اربکیان مرګوني ټپیان کړل او موټر یې هم پوره تخریب کړ. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

جاني خېلو کې ۳ ټانکونه او ۵ عسکر له منځه لاړل

د پکتیا ولایت د جاني خېلوولسوالي په میاکلا سیمه کې له عسکرو سره چې د انتخاباتو لپاره د زمینه سازۍ په موخه راغلي وو نښته وشوه، دنښتې په ترڅ کې ۵ عسکر ووژل شول او ۴ نور ټپیان شول، له دې علاوه ۳ زغروال ټانکونه په بشپړه توګه وبجار شول. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

جاني خېلو کې په موټر چاودنې ۳ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت د جاني خېلوولسوالي په منډتي سیمه کې د اجیري اردو موټر په ماین والوزول شو،په چاودنه کې موټر پوره

تخریب او یکې ناست عسکر ۳ تنه ووژل شول او ۲ مرګوني ټپیان شول. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

لجه منګل کې د ګودامګي اردو په ګزمه بریدوشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالي په نوزي سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې ۴ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په نیک نام کلا سیمه کې دا جیري اردو په ګزمه برید ترسره شو، دبرید په مهال ۴ عسکر مړه، ۲ عسکر ټپیان شول او یو رینجر موټر تخریب شو. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

ځمکنو کې په موټر چاودنې ۳ پولیس ووژل

دپکتیا ولایت د ځمکنو ولسوالي په مندخیلوسیمه کې د سرحدي پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۳ تنه پولیس پکې ووژل شول. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

لجه منګل کې ۳ موټر تخریب او ۴ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت دلجه منګل ولسوالي په ښېرني سیمه کې داجیري اردو په عسکرو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ عسکر مړه او ۴ نور ټپیان شول، په دې سرېره ۳ رینجر موټر تخریب شول. دغه راز په سیمه کې په هغه موټر بریدوشو چې انتخاباتي صندقونه یې انتقالول. دبرید له امله ۱ عسکر ووژل شو او موټر او صندقونه تخریب شول. ۰۶-۰۴-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې په برید کې اوبکی قومندان ټپي شو

د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالي په خواجه خیلو سیمه کې د اربکیانو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال یو اربکی قومندان سخت ټپي شو او نور وتښتېدل. ۰۸-۰۴-۲۰۱۴

زرمت کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په هستوګنه سیمه کې یو پولیس په دراز کوف په ننبه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۸-۰۴-۲۰۱۴

پکتیامرکزته نژدې ماین د ۳ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز ته څېرمه په شیخانو سیمه کې داجیري اردو په پلي ګزمه د ښخ کړل شوي ماین چاودنې ۳ تنه عسکر مړه او ۱ عسکر سخت ټپي کړ. ۰۹-۰۴-۲۰۱۴

زرمت کې د برید په مهال ۴ عسکر ووژل شول او ۶ ژوبل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په مقرب خېلوسیمه کې د اجیري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ تنه عسکر ووژل شول او ۶ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سرېره یو شمېر رینجر موټر تخریب شول، په جګړه کې ۲ تنه مجاهدین ټپیان شول. ۰۹-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې عسکر په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په اسلام خېلوسیمه کې یو عسکر په دراز کوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۹-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې عسکر په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په پای لوچو سیمه کې د اجیري اردو یو عسکر په دراز کوف په ننبه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۱۰-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د پتان ولسوالي په شپولي سیمه کې یوتن سرحدي پولیس په دراز کوف وویشتل شو او ووژل شو. ۱۰-۰۴-۲۰۱۴

ګردیزته څېرمه په برید کې ۲ پولیس قتل ۱ ژوبل شو

دپکتیا ولایت مرکز ګردیز ته څېرمه د ډاؤ په سیمه کې داجیرو پولیسو په پلي ګزمه وسلوال برید ترسره شو، دبرید په پایله کې دوه تنه پولیس مړه یوبل سخت ژوبل اوپاتې نورې په تېښته بریالي شول. ۲۰۱۴/۴/۱۰

په زرمت کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په هستوګنه سیمه کې یو تن پولیس په دراز کوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۱

پټان کې قرارګاه په هاوان وویشتل شوه

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالۍ په شپولي سیمه کې د سرحدي پولیسو قرارګاه د هاوان په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې ودانۍ یې پوره زیانمنه شوه او پکې مېشتو پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۱۳

پټان کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د پټان ولسوالۍ په شپولي سیمه کې یو سرحدي پولیس په دراز کوف وویشتل شو او ووژل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۱۳

پکتیا مرکز ته څېرمه ۱ ټانک تخریب او ۷ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز ته نژدې په رباط سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، دبرید په ترڅ کې ۷ عسکر ووژل شول او ۳ مرګوني ټپیان شول، له دې علاوه ۱ زغروال ټانګ وویشتل شو او تخریب شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۴

احمدخېلو کې په برید کې ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د احمدخېلو ولسوالۍ په احمدخېلو سیمه کې د اجیري اردو په پلې ګزمه وسلوال برید ترسره شو چې په مهال یې ۲ عسکر ووژل شول. ۲۰۱۴-۰۴-۱۵

په زرمت کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په ودانۍ کې یو پولیس په دراز کوف په نښه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۵

پکتیا مرکز ته نژدې چاودنو ۴ پولیس او ۵ جاسوسي اداري کارمندان مړه او ژوبل کړل

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز ته نژدې په شیخانو سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک تخریب، او ۴ پولیس پکې ژوبل شول، دغه راز د بازار په اړونده سیمه کې د جاسوسي اداري د کارمندانو په موټر چاودنه وشوه چې له امله یې موټر تخریب او پکې ناست ۲ تنه ووژل شول او ۳ مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۱۵

ګرده څېړۍ کې اشغالګرو یوه ښځه او سړی شهیدان کړل

د پکتیا ولایت د ګردې څېړۍ په خاخېلو کلي کې اشغالګرو عسکرو چاپه ووهله، اشغالګرو د بې رحمانه تالاشي په مهال خلکو ته زیات مالي زیانونه، یو شمېر خلک یې بندیان کړل او په دې علاوه یوه ښځه او سړی یې شهیدان کړل، انالله وانا الیه راجعون. ۲۰۱۴-۰۴-۱۶

په زرمت کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په ودانۍ کې یو پولیس په دراز کوف په نښه او وویشتل شو، عیني شاهدان وایي پولیس ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۱۷

ارمه کې ۶ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیا ولایت په ارمه ولسوالۍ کې ۶ تنه اربکیان (اسدالله، محمدرحیم، عبدالله، محمد سید ولي او ګلستان) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په برکت د اسلامي امارت له مخالفت نه په شاه او مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۰۱۴-۰۴-۱۷

په زرمت کې د برید په مهال ۶ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په پای لوچو سیمه کې د وسلوال برید په مهال د اجیري اردو ۶ تنه عسکر ووژل شول او په دې سر بېره ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۱۸

زرمت کې یو اربکی ژوندی ونیول شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مموزو سیمه کې یو اربکی ژوندی ونیول شو او خوندي ځای ته انتقال شو. ۲۰۱۴-۰۴-۱۸

پکتیا مرکز ته څېرمه د مرکزي کمپاین سخت ټپي شو

د پکتیا ولایت مرکز گردیز ته نژدې د غزني په لاره د کمپاین په قومندان پهلوان باندې د لاسي بم برید وشوچې له امله یې نوموړی مرګونی تپې شو. ۱۹-۰۴-۲۰۱۴

ځمکنو کې په موټر چاودنې ۲ عسکر تپیان کړل

د پکتیا ولایت د ځمکنو ولسوالی په شیرخون سیمه کې د ګودامګی اردو موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب او ۲ عسکر پکې سخت تپیان شول. ۲۰-۰۴-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې اکمالاتي موټر وسوزول شو

د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالی په علي سنګي سیمه کې د دښمن اکمالاتي موټر وسوزول شو. ۲۱-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې په کمپاین د هشتادو برید، ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په کولالګو سیمه کې د اجیري اردو کمپاین د هشتادو په ۳ مرمیو دقیق وویشتل شو، د برید له امله ودانی ته په زیان اوښتو سربیره ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۱-۰۴-۲۰۱۴

پکتیامرکزته خبره چاودنې ۳ عسکروته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په شیخانو سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه درنه چاودنه وشوه، دچاودنې له امله ۲ عسکر ووژل شول او بل سخت ژوبل شو. وروسته د اجیري اردو عسکرو په سیمه کې ناټار ډزې پیل کړې چې له امله یې یو ملکي وګړی تپې شو. ۲۲-۰۴-۲۰۱۴

جاني خپلو کې له دښمن سره نښته وشوه

د پکتیا ولایت د جاني خیل ولسوالی په خاخپلوسیمه کې له پولیسو او اربکیانو سره نښته وشوه چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۳-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې ۲ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په جفتیانو سیمه کې د وسلوال برید په مهال د اجیري اردو ۲ تنه عسکر ووژل شول او ګڼ نور عسکر تپیان شول. ۲۳-۰۴-۲۰۱۴

پکتیامرکزته نژدې ۷ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خپلوسیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۷ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور مرګونې تپیان شول، وروسته د دښمن الوتکو په سیمه بمباري وکړه چې له امله یې ۱ مجاهد شهید او بل تپي شو، انالله وانا الیه راجعون. ۲۴-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې په پوسته برید، ۳ پولیس ووژل شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په هستوګنه سیمه کې د پولیسو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله ۳ عسکر مړه او ۲ نور تپیان شول، په دې سربیره ودانی هم زیانمنه شوه. ۲۵-۰۴-۲۰۱۴

پکتیامرکزته نژدې ماین ۱ عسکر وواژه

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په شیخانو سیمه کې د ښځ کړل شوي ماین چاودنې د اجیري اردو ۱ عسکر وواژه او یو بل عسکر یې سخت تپي کړ. ۲۶-۰۴-۲۰۱۴

ځاځي اریوب کې پولیس مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت په ځاځي اریوب ولسوالی یو پولیس چې الیاس نومیږي د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې په مري خپلوسیمه کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۶-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې په موټر چاودنې قومندان تپي او ۲ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت د پتان ولسوالی په ځیګر سیمه کې د قومندان خاندین په موټر درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر تخریب او قومندان خاندین سخت تپي شو اودوه ساتونکي یې ووژل شول. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

زرمت کې اشغالګرو ملکي وګړی شهید کړ

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په چهار کلا سیمه کې وحشي اشغالګر و عسکرو د یو عام وګړي په کور چاپه ووهله او د بې رحمانه تالاشي په مهال یې کور ته په زیان اړولو سربیره یو سړی شهید کړی او بل یې ټپي کړ. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې اربکی په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د پتان ولسوالی په تنګي سیمه کې یو اربکی په دراز کوف وویشتل شو او ځای په ځای ووژل شو. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې امریکایي عسکر په دراز کوف ووویشتل شو

د پکتیا ولایت دزرمت ولسوالی په چهار کلا سیمه کې یو امریکایي عسکر په دراز کوف وویشتل شو او ځای په ځای ووژل شو. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیا ولایت د پتان ولسوالی په شپولي سیمه کې یو سرحدي پولیس په دراز کوف وویشتل شوچې ځای په ځای ووژل شو. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې ماین اربکی قومندان ووژل شو

دپکتیا ولایت د پتان ولسوالی په سلتکو سیمه کې د ماین چاودنې اربکی قومندان نصرالله وواژه او ۳ اربکیان یې مرګوني ټپیان کړل. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې د ګډ دښمن په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت دپتان ولسوالی په سلتکو سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۹-۰۴-۲۰۱۴

د زرمت ولسوالی ودانی په هشتادو وویشتل شوه

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی ودانی د هشتادو په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته درونډ مالي او ځاني زیان واوښت. ۲۹-۰۴-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته نژدې په موټر چودنې ۶ عسکر ووژل

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې د اجیري اردو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر په بشپړه توګه تخریب شو او ۶ عسکر پکې ووژل شول. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

په زرمت کې په کمپاین برید، ۷ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په سهاکو سیمه کې د دښمن کمپاین په هشتادو او دهشکه وویشتل شو چې له امله یې ۵ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور ټپیان شول. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

پتان کې ماین یو اربکی وواژه

د پکتیا ولایت د پتان ولسوالی په سلتکو سیمه کې په اربکیانو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ اربکی ووژل شو او ۳ ټپیان شول. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

پکتیکا

خیر کوټ کې په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالی په ملیزو سیمه کې د اربکیانو په بوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله د پوستې ودانۍ زیانمنه خو د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۴-۲۰۱۴

برمل کې په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالی په شپاڼ ترلي سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۴-۲۰۱۴

اورګون کې په پوسته برید ترسره شو

د پکتیکا ولایت داورګون ولسوالی په پیرکوتي سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۲-۰۴-۲۰۱۴

زیړوک کې چاودنه ۱ موټر او ۴ عسکر له منځه یووړل

د پکتیکا ولایت دزیړوک ولسوالۍ په ورژانه سیمه کې د دښمن په کاروان ۲ چاودنې وشوې چې له املې یې ۴ عسکر ووژل شول او ۵ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربیره یو عراده رینجر موټر په بشپړه توګه ویجاړ شو. ۰۲-۰۴-۲۰۱۴

زیړوک ولسوالۍ ودانۍ په درنو وسلو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت دزیړوک ولسوالۍ په ودانۍ د زیکویک اوهاوان برید ترسره شو، د بریدله املې دښمن ته تلفات واوښتل اما په هکله یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۲-۰۴-۲۰۱۴

ګیان کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په ولې واسته سیمه کې د اجیري اردو په پوسته وسلوال برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۳-۰۴-۲۰۱۴

متاخان کې په ټانک چاودنې ۳ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالۍ په مرجان سیمه کې د اجیري اردو زغروال ټانک په ماین والوزول شو، چاودنې ټانک پوره تخریب کړ، ۳ عسکر یې مړه او ۲ مرګوني ټپیان کړل.

۰۳-۰۴-۲۰۱۴

برمل کې کمپاین په مزایلو وویشتل شو

د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ کې د نوي اډې کمپاین په ۳ میزایلو دقیق وویشتل شو چې له املې یې دښمن ته مالي اوځاني تلفات واوښتل. ۰۳-۰۴-۲۰۱۴

خیرکوټ کې په پوسته او کمپاین بریدونه وشول

د پکتیا ولایت د خیرکوټ ولسوالۍ په ملیز سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، همدارازپه عیني وخت کې د ولسوالۍ مرکزته نژدې د اجیري اردو کمپاین په ۲ میزایلو دقیق وویشتل شو، د بریدله املې د پوستې او کمپاین ودانیو ته پوره زیانونه واوښتل اما په هکله یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۳-۰۴-۲۰۱۴

ګیان کې په پوسته او قرارګاه بریدونه وشول

د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په ولې واسته سیمه کې د دښمن په قرارګاه او پوسته وسلوالو بریدونه ترسره شول، د اوږدمهالې جګړې په ترڅ کې د پوستې او قرارګاه ودانۍ پوره تخریب شوې او پکې میشتو عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

اروګون کې په کاروان او پوسته برید، ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت د اروګون ولسوالۍ په پیرکوټي سیمه کې د اجیري اروپه کاروان او د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۲ عسکر ووژل شول او ۳ نور ټپیان شول او په دې سربیره د پوستې ودانۍ هم تخریب شوه. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

ګیان کې ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په منې ګودو سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه د وسلوال برید په مهال ۲ عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

سروبي کې په پوسته برید، ۳ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالۍ په زامي سیمه کې د اربکیانو پوسته د هشتادو په ۴ مرمیودقیق وویشتل شوه، د برید له املې ۳ عسکر مړه او د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه.

۰۴-۰۴-۲۰۱۴

ګیان کې په کاروان برید، ۳ موټر تخریب او ۶ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ په منې کنډو او ولې واسته سیمه کې د اجیري اردو په موټرېز کاروان وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال ۶ عسکر ووژل شول او ۵ نور ټپیان شول، په دې سربیره ۳ رینجر موټر پوره تخریب شول، په جګړه کې ۱ مجاهد شهید او ۲ ټپیان شول. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

چاربران کې په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت د چاربران ولسوالۍ په سپینه سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۰۴-۰۴-۲۰۱۴

جاني خپلوولسوالي، ودانې تر بريد لاندې راغله

د پکتيکا ولايت د جاني خپلوولسوالي په ودانې وسلوال برید ترسره شو چې په مهال يې دښمن ته تلفات واوښتل.

۲۰۱۴-۰۴-۰۶

اومنه ولسوالي، ودانې په هفتادپنج وويشتل شوه

د پکتيکا ولايت د اومنه ولسوالي په ودانې د هفتاد پنج برید ترسره شو، دبرید په ترڅ کې ۵ مرمي دودانې په منځ کې ولګېدې، د برید له امله دښمن ته تلفات واوښتلاما په اړه يې شواهد نه دي ترلاسه شوي.

۲۰۱۴-۰۴-۰۶

اورګون کې قرارګاه په توغندیو وويشتل شوه

د پکتيکا ولايت په اورګون ولسوالي کې د دښمن په قرارګاه ۶ توغندي وتوغول شول ،په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو داوښتو تلفاتو دقيق ارقام نه دي ترلاسه شوي.

۲۰۱۴-۰۴-۰۶

اورګون کې پورته په هشتادوو وويشتل شوه

د پکتيکا ولايت د اورګون ولسوالي ودانې د هشتادوو په ۶ مرميو دقيق وويشتل شوه،د برید له امله دښمن ته تلفات واوښتل اما په هکله يې شواهد نه دي ترلاسه شوي.

۲۰۱۴-۰۴-۰۸

زيروک کې په پوسته کې چاودنې ۳ اربکيانوته مرګ ژوبله واړوله

د پکتيکا ولايت د زيروک ولسوالي په ورژنه سيمه کې د اربکيانو په پوسته کې چاودنه وشوه،دچاودنې له امله ۱ اربکی ووژل شو او ۲ تپيان شول.

۲۰۱۴-۰۴-۰۹

اورمای کې د جاسوسي اداري په کارمندانوبريدوشو

د پکتيا ولايت د اورمای ولسوالي په مرکزي سيمه کې د جاسوسي اداري په کارمندانو برید ترسره شوچې په مهال يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته.

۲۰۱۴-۰۴-۰۹

خوشامندو ولسوالي، ودانې په هاوان وويشتل شوه

د پکتيکا ولايت د خوشامند ولسوالي په ودانې د هاوان په ۶ مرميو دقيق وويشتل شوه چې له امله يې ودانې زيانمنه شوه او يکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.دغه راز د يادې ولسوالي په مناري سيمه کې په يورعيتي لاري موټر پخوانی ماين وچاودېد چې له امله يې موټر تخريب شو او مرګ ژوبله يې نه درلوده.

۲۰۱۴-۰۴-۱۰

اورمای کې ماين د جاسوسي اداري کارمند سخت ژوبل کړل

دپکتيکا ولايت د اورمای ولسوالي په ممي ليسې اړوند سيمه کې د جاسوسي اداري په کارمندانوچاودنه وشوه،دچاودنې له امله عيدګل چې پخوا د پوليسو قومندان او اوس يې په استخباراتو کې دنده ترسره کوله مرګونې تپې شو.

۲۰۱۴-۰۴-۱۰

اورګون کې پوسته په هشتادوو وويشتل شوه

د پکتيکا ولايت د اورګون ولسوالي په پيرکوتي سيمه کې د اربکيانو پوسته د هشتادوو په ۴ مرميو دقيق وويشتل شوه چې ودانې يې پوره زيانمنه شوه او يکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.

۲۰۱۴-۰۴-۱۰

خيرکوټ کې په پوسته برید وشو

د پکتيکا ولايت د خيرکوټ ولسوالي په مامورخپلوسيمه کې د اربکيانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو،په برید کې اربکيانو ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره يې څرګنده نه شوه.

۲۰۱۴-۰۴-۱۱

وازه خوا کې پوسته تر بريد لاندې راغله

د پکتيکا ولايت د وازې خوا ولسوالي په مهمان کلا سيمه کې د اربکيانو په پوسته برید ترسره شوچې په مهال يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته.

۲۰۱۴-۰۴-۱۱

اورګون کې دجاسوسي شبکې مهم غړی [ګل بابری] له ۴ساتونکوسره ووژل شو

د پکتيکا ولايت داورګون ولسوالي په بازارکې دګودامګي اداري داستخباراتو په مهم کس [ګل بابري]باندې ديوه تن قهرمان

فدايي مجاهد (روح الله) اله لوري دفدايي واسكټ په توسط فدايي بريد ترسره شو، دبريد په پايله کې ګل بابري له خپلو ځلور تنه ساتونکو عسکر وسره ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۴/۴/۱۱

پکتيکا مرکزته نژدې اربکی مجاهدينو سره يو ځای شو

د پکتيکا ولايت مرکز ښرني ته نژدې په محمد خپلو کلي کې يو اربکی چې سيد اکبر نومهروي د جلب او جذب کميسيون د دعوت په پايله کې له مجاهدينو سره يو ځای شو. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

اورمای کې په اربکيانو ماين وچاودېد

د پکتيکا ولايت د اورمای ولسوالی په مملي سيمه کې په اربکيانو چاودنه وشوه چې له امله يې اربکيانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

جاني خپلو په پوسته او ګزمه برېدونه وشول

د پکتيکا ولايت د جاني خپلوولسوالی په کنزکي سيمه کې د اربکيانو په پوسته او په عيني وخت کې په خنجکو سيمه کې د اربکيانو په ګزمه برېد ترسره شو، په برېدونو کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

يوسف خپلو کې په پوسته برېدوشو

د پکتيکا ولايت د يوسف خپلوولسوالی په مشخپلوسيمه کې د اربکيانو په پوسته وسلوال برېد ترسره شو چې پکې مېشتو اربکيانو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

ګومل کې چاودنې ۳ پوليس ووژل

د پکتيکا ولايت د ګومل ولسوالی، مرکز ته نژدې د پوليسو په پلې ګزمه د ښخ کړل شوي ماين چاودنې ۳ تنه پوليس مړه او ۲ مرګوني ټپيان شول. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

برمل کې ماين ۱ عسکر ووژه

د پکتيکا ولايت د برمل ولسوالی په شپاڼترلي سيمه کې د اجيري اردو په ګزمه د چره دار ماين چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ عسکر ووژل شو او بل ژوبل شو. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

متاخان کې ماين د ۳ پوليسو ژوند واخيست

د پکتيکا ولايت د متاخان ولسوالی، مرکز ته نژدې د پوليسو په ګزمه د چره دار ماين چاودنه وشوه، چاودنې ۳ پوليس ووژل او ۲ نور يې ټپيان کړل. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

خير کوټ ولسوالی ودانی په هفتادپنځو ويشتل شوه

د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالی ودانی د هفتادپنځ په ۳ مرميو دقيق ويشتل شوه چې له امله يې دښمن ته مرګ ژوبله او مالي زيان واوښت. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

خير کوټ کې په اربکيانو ماين وچاودېد

د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالی په محمد دوست کلي کې د اربکيانو په ګزمه چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ اربکی ووژل شو. ۱۴-۰۴-۲۰۱۴

خير کوټ کې په خپلمنځي جګړه کې د استخباراتو د مدير ورور او ۳ پوليس ټپيان شول

د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالی په بازار کې د پوليسو او استخباراتي کارمندانو ترمنځ نښته وشوه، په نښته کې د استخباراتو د مدير ورور او ۳ تنه پوليس سخت ټپيان شول. ۱۴-۰۴-۲۰۱۴

جاني خپلو کې په اربکيانو برېدوشو

د پکتيکا ولايت د جاني خپلوولسوالی په کوري سيمه کې په اربکيانو برېد ترسره شو چې په مهال يې مرګ ژوبله ورته واوښته. ۱۴-۰۴-۲۰۱۴

خير کوټ کې په پوسته برېدوشو

د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالی په سيګانه سيمه کې د اربکيانو په پوسته برېد ترسره شو، په برېد کې پوستې ته زيان واوښت او يو مېشتو اربکيانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۴-۰۴-۲۰۱۴

جاني خپلو کې ۲ پوليس ووژل شول

د پکتیکا ولایت د جاني خپلوولسوالي په مرکزي سیمه کې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۲ پولیس ووژل شول، یو موټر سایکل او ۲ کلاشنکوفونه غنیمت شول.
۲۰۱۴-۰۴-۱۴

ګومل کې په کمپاین برید وشو

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالي په بندر سیمه کې د اجیري اردو په کمپاین برید ترسره شو، په برید کې د کمپاین ودانی زیانمنه شوه او یکې میشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.
۲۰۱۴-۰۴-۱۵

سرحوضه کې په موټر چاودنې ۲ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالي په کوتنې سیمه کې د اجیري اردو رینجر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او یکې ناست عسکر ۲ تنه ووژل شول او ۳ ټپیان شول.
۲۰۱۴-۰۴-۱۵

خیر کوټ کې د شورا غړی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالي د شورا غړی چې ظاهرشاه نومېږي له مجاهدینو سره یو ځای شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۵

خیر کوټ کې په پوسته برید وشو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالي په معمور خپلوسیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل.
۲۰۱۴-۰۴-۱۶

سروبي کې د اربکیانو پوسته په درنو وسلو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت دسروبي ولسوالي په زامي سیمه کې د اربکیانو پوسته د هغتادپنج په ۳ او د هشتاددو په ۳ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له املې یې دښمن ته تلفات واوښتل.
۲۰۱۴-۰۴-۱۷

اومنه ولسوالي ودانی په هاوان وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د اومني ولسوالي په ودانی د هاوان برید ترسره شوچې ۶ مرمي یې په منځ کې ولګېدلې، د برید له املې دښمن ته تلفات واوښتل اما په اړه یې شواهد نه دي ترلاسه شوي.
۲۰۱۴-۰۴-۱۷

جاني خپلو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت د جاني خپلوولسوالي په کنز سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له املې دښمن ته مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل.
۲۰۱۴-۰۴-۱۷

خیر کوټ کې یو پولیس مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالي په محمد حسن کلي کې یو پولیس (داود) له مجاهدینو سره یو ځای شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۷

زیروک کې ماین ۱ اربکی ووژه

د پکتیکا ولایت د زیروک ولسوالي په ورژانه سیمه کې د اربکیانو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ اربکی ووژل شو او بل سخت ژوبل شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۸

سرحوضه کې په کاروان برید، ۳ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالي په شوی کمر سیمه کې د اجیري اردو په موټریز کاروان برید ترسره شو، په برید کې ۳ عسکر وژوند له لاسه ورکړ او بل سخت ژوبل شو، له دې علاوه یو شمېر موټر هم تخریب شول.
۲۰۱۴-۰۴-۲۰

اورګون کې په پوسته برید، ۲ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالي په پیر کوتي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو،
دبرید په مهال ۲ اربکیان ووژل شول او ۳ مرګوني ټپیان شول، په جګړه کې ۴ مجاهدین سرسرکي ټپیان شول.
۲۰۱۴-۰۴-۲۱

پکتیکا مرکز ته نژدې ۱ موټر سایکل تخریب او ۲ اربکیان ژوبل شول

د پکتیکا ولایت مرکز بنرني ته نژدې په اسعدآباد سیمه کې د اربکیانو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۲ اربکیان سخت ټپیان شول او یو موټر سایکل تخریب شو.
۲۰۱۴-۰۴-۲۱

سرحوضه کې چاودنې د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالی په مدوکځ سیمه کې د پولیسو په پلې ګزمه د چړه دار ماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ پولیس ووژل شول او ۳ مرګونې ټپیان شول. ۲۲-۰۴-۲۰۱۴

سرحوضه کې اربکی قومندان شاه زمان ووژل شو

د پکتیکا ولایت دسرحوضې ولسوالی د سرحوضې په کلي کې د اربکیانو په پلې ګزمه برید ترسره شو، په برید کې اربکی قومندان شاه زمان ووژل شو ،یو کلاشنکوف له تجهیزاتو سره او یوه مخابره غنیمت شو. ۲۲-۰۴-۲۰۱۴

برمل کې ۵ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیکا ولایت دبرمل ولسوالی په نوې اډه سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۵ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ او ۳ نور سخت ژوبل شول،په جګړه کې ۴ مجاهدین ټپیان شول. ۲۲-۰۴-۲۰۱۴

زیړوک ولسوالی ودانی او کمپاین په درنو وسلو وویشتل شول

د پکتیکا ولایت د زیړوک ولسوالی په ودانی او ودانی ته نژدې کمپاین د هشتادو په ۳ او د هاوان په ۲ مرمیو وویشتل شو چې دښمن ته یکې مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل. ۲۳-۰۴-۲۰۱۴

سرحوضه کې په پوسته برید، ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت د سرحوضې په کوټني سیمه کې د اجیري اردو په پوسته برید ترسره شو،په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ۳ ټپیان شول. ۲۳-۰۴-۲۰۱۴

خیر کوټ کې په پوسته برید ترسره شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالی په ملیزو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۳-۰۴-۲۰۱۴

یوسف خېلوولسوالی ودانی په هشتادو وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د یوسف خېلوولسوالی ودانی د هشتادو په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه او وروسته په هغو پونیسو هم برید ترسره شو چې د مجاهدینو په تعقیب د ولسوالی له ودانی نه راووتل ،په بریدونو کې ودانی زیانمنه شوه او پولیسو ته هم درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۴-۰۴-۲۰۱۴

برمل کې ماین د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د پکتیکا ولایت دبرمل ولسوالی په انګوراډه سیمه کې د چړه دار ماین چاودنې ۲ تنه پولیس ووژل او یو پولیس یې سخت ژوبل کړ. ۲۵-۰۴-۲۰۱۴

شکین کې چاودنو ۵ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیکا ولایت د شکین ولسوالی په مرکزي سیمه کې د پولیسو په پلې ګزمه دوه درنې چاودنې وشوې، په چاودنو کې ۳ پولیس ووژل شول او ۲ ټپیان شول. ۲۵-۰۴-۲۰۱۴

سروبي کې په پوسته د برید له امله ۳ اربکیان ووژل شول

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالی په زامي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو،په برید کې ودانی ته په زیان اوښتو سربېره ۳ اربکیان مړه او ۲ ټپیان شول. ۲۵-۰۴-۲۰۱۴

ګومل کې په کمپاین برید وشو

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالی په بندر سیمه کې د اجیري اردو په کمپاین د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۶-۰۴-۲۰۱۴

ګومل کې د پولیسو په کاروان برید وشو

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالی په زمین توی سیمه کې د پولیسو په کاروان برید ترسره شو. دبرید په مهال دښمن ته تلفات واوښتل خو شپږه یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

خیر کوټ کې په ګوډاګیو عسکرو برید وشو

د پکتیکا ولایت په خیر کوټ ولسوالی کې د ګوډاګیو عسکرو په ګزمه وسلوال برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۷-۰۴-۲۰۱۴

زیړوک ولسوالی په ودانی، کمپاین او پوستو برید، ۲۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکا ولایت د زیرو ک ولسوالي په ودانی، کمپاین او ۳ دفاعي پوستو وسلوال برید ترسره شو، د اوږدمهالي جګړې په مهال درېواړه دفاعي پوستې فتحه شوې او ۵ کلاشنکوفونه، ۲ راکټ لانچر، ۳ پیکا ماشیندار او ګن شمېر نورې وسلې او مهمـــات پکـــې د مجاهـــدینو لاس تـــه ورغلـــل. په برېدونو کې د دښمن ۲۰ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ او ۱۵ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ۵ پولیس ژوندي ونیول شول، وروسته د اشغالګر و عسکرو الوتکو په سیمه درنه بمباري وکړه چې له امله یې ۱۳ مجاهدین د شهادت لوړ مقام تـه ورسېدل او ۱۰ نور ټپیان شول، انالله وانا الیـه راجعـون.

۲۰۱۴-۰۴-۲۸

زیرو ک کې برید او چاودنو کې ۵ موټر تخریب ۱۵ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د زیرو ک ولسوالي په منځکي سیمه کې د اجیري اردو او پولیسو په ګډه برېدونه او ۴ چاودنې وشوې چې په مهال یې ۵ موټر تخریب او ۱۵ تنه عسکر ووژل شول، په پېښو کې ۸ نور عسکر مرګوني ټپیان شول. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

زیرو ک کې ۲ عسکر ووژل شو

د پکتیکا ولایت د زیرو ک ولسوالي په سري میدان سیمه کې د اجیري اردو ۲ تنه عسکر ووژل شول او ګن نور عسکر ژوبل شول. ۲۸-۰۴-۲۰۱۴

اورمای کې په کاروان برید، ۱ موټر تخریب شو

د پکتیکا ولایت د اورمای ولسوالي په بختنوه سیمه کې د پولیسو په کاروان برید ترسره شو، دېرید په مهال ۱ رینجر موټر تخریب او ګن پولیس هم قتل او ژوبل شول.

۲۹-۰۴-۲۰۱۴

پکتیکا مرکز ته خبره د اربکیانو په ګډه برید وشو

د پکتیکا ولایت دمرکز شرني د ملایانو کلي ته نژدې د اربکیانو په ګډه برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۹-۰۴-۲۰۱۴

چاربران کې ۲ اربکیان ووژل شو

د پکتیکا ولایت د چاربرار ولسوالي په سپینه سیمه کې د وسلوال برید په مهال ۲ تنه اربکیان ووژل شول او ۱ اربکی مرګوني ټپي شو. ۲۹-۰۴-۲۰۱۴

زیرو ک کې ۱ موټر تخریب او ۵ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د زیرو ک ولسوالي په سري میدان سیمه کې د اجیري اردو په کاروان برید او چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې ۵ عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ۱ عراده رینجر موټر هم تخریب شو. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

پکتیکا مرکز ته نژدې په اربکیانو برید وشو

د پکتیکا ولایت د مرکز شرني اړوند په کوټوالو سیمه کې د اربکیانو په ګډه برید ترسره شو، په برید کې یو اربکی ژوبل شو او نور وتښتېدل. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

سروبي کې پوسته په هشتاددو ویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالي په زامي سیمه کې د اربکیانو پوسته د هشتاددو په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې پوره زیانمنه شوه او پکې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.

۳۰-۰۴-۲۰۱۴

خیر کوټ ولسوالي په ودانی برید وشو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالي په ودانی په داسې حال کې ترسره شو چې په ودانی کې د شورا د غړو غونډه روانه وه ،وسلوال برید ترسره شو، دبرید له امله د شورا غړي په یوه او بله وتښتېدل. ۳۰-۰۴-۲۰۱۴

خوشامند کې د پولیسو موټر په ماین والوت

د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالي په شادکلي سیمه کې د پولیسو موټر په ماین والوزول شوچې پوره تخریب شو.

۳۰-۰۴-۲۰۱۴

اورمای کې پوسته تر برید لاندې راغله

د پکتیکا ولایت د اورمای ولسوالي په د وکیل غمي کلي ته نژدې د پولیسو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د

برید له املـه د پوستې ودانۍ زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۴-۳۰

ننګرهار

سرخرود کې د دښمن په ګزمه برید وشو

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په ککړک سیمه کې د دښمن په ګزمه وسلوال برید ترسره شوچې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

ګوشتي کې د قطب الدین هلال انتخاباتي دفتر وسوزول شو

د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالۍ په خویز سیمه کې د قطب الدین هلال د انتخاباتي کمپاین تر برید لاندې راغی او په بشپړه توګه له منځه یوړل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

جلال اباد کې د کونړ د مامۍ ګي ولسوالۍ جاسوس سید کریم ووژل شو

دننګرهار ولایت د جلال اباد ښار اړونده سیمه کې د مخابراتو چوک ته نژدې پوهنتون ته څېرمه د کونړ ولایت د مامۍ ګي ولسوالۍ یو تن مشهور جاسوس سید کریم د خپل کور په دروازه کې ووژل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

جلال اباد ولایت مقام په توغندیو وویشتل شو

دننګرهار ولایت په جلال اباد کې د ولایت په مقام ۳ توغندي وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل او له املـه یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

خوګیانۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د خوګیانۍ ولسوالۍ په وزیر و تنګي سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

ده بالاکې ۲ پولیس په دراز کوف وویشتل شول

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په هارون بابا سیمه کې د سرحدي پوستې ۲ تنـه پـولیس پـه دراز کـوف وویشـتل شوچې یو یې ځای په ځای ووژل شو او بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

غني خېلو کې په غوندې میزایل وار شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلوولسوالۍ کې د دښمن په ۷۱ غوندې باندې ۳ میزایل وتوغول شول چې په منځ کې یې ونګېدل. د برید له املـه دښمن تـه داوښتي زیان پـه اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

لعلپور کې پوسته په هاوان ووېشتل شوه

د ننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالۍ په فتح مینه سیمه کې د اجیري اردو پوسته د هاوان په ۹ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له املـه یې ودانۍ پـوره زیانمنـه شـوه، پـه پوسـته کې مېشـتو عسکرو تـه داوښتي مـرګ ژوبلـي کـره شـمېره نـه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

ده بالاکې ۱ ټانک تخریب او ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهـار ولایـت د ده بـالا ولسـوالۍ پـه مریـز، داغـي بنـد او سرومیرانو سیمو کې د ګوډاګي اداري لـه پولیسـو سره نښـته وشوه، په نښتو کې ۲ پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره یو زغرول ټانک او د سیاف د کمپاینرانو کرولا موټر تخریب شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۱

ګوشتي کې په پوسته برید، ۴ اربکیان مړه اوژوبل شول

د ننګرهار ولایت په ګوشتي ولسوالۍ کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. د برید لـه املـه ۱ اربکی ووژل شو او ۳ نـور مرګـوني ټپیـان شـول، پـه دې سـربېره ودانۍ هـم زیانمنـه شـوه، په جګړه کې یـو مجاهـد سرسـر کې ټپی شـو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

پچیراګام ولسوالۍ ودانۍ تر برید لاندې راغله

د ننګرهـار ولایـت د پچیراګـام ولسـوالۍ، امنیـه قومنـدانۍ او استخباراتو د ریاست په ودانیو د سپکو اوو درنو وسلو برید وشو چې له املـه یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

شیرزاد ولسوالۍ ودانۍ په هاوان ووېشتل شوه

د ننګرهـار ولایـت د شـیرزادو ولسـوالۍ ودانـۍ د هـاوان په ٦ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له املـه یې ودانۍ زیانمنه شوه، په برید کې دښمن ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

خوګیانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د خوګیانوولسوالۍ په وزیرو دوسر که سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له املـه دښمن تـه مـالي او ځـاني تلفات واوښتل امـا پـه اړه یې دقیـق معلومات نشته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

چپرهار کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت دچپرهار ولسوالۍ کې په تر کوسیمه کې یو تـن عسـکر محمداصـف لـه مجاهـدینو سـره یـو ځـای شـو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

چپرهار کې ۴ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ اخون کلي ته نژدې په پلیو اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال ۱ اربکی ووژل شو او ۳ نور ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۲

جلال اباد کې چاودنو ۳ پولیس ټپیان کړل

دننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په دوهمه حوزه کې د اشرف غني د انتخاباتي کمپاین دفتر تـه نژدې چاودنـه وشـوه چې پولیسو ته یې مرګ ژوبله واوښته ،دغه راز د لغمان زړې اډې ته نژدې په پلیو پولیسو بله چاودنه وشوه چې ۳ تنه یې سخت ټپیان کړل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

اچین کې په موټر چاودنې ۳ پولیس ټپیان کړل

د ننګرهار ولایت داچین ولسوالۍ په پیښې خور کښ سیمه کې د سرحدي پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب او ۳ پولیس مرګونې ټپیان کړل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

سپین غر کې په موټر چاودنې ۵ اربکیان ژوبل کړل

د ننګرهـار ولایـت د سـپین غـر ولسـوالۍ د کوشـتل کلـي او اودلخپلـو ترمنځ د اربکیـانو پـه رینجـر مـوټر چاودنـه وشـوه، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۵ اربکیان پکې سخت ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

اچین کې ۱۱ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په باندر خوله سیمه کې د دښمن په قوه چې سیمې ته د انتخاباتو لپاره د زمینـه سازۍ په موخـه راغلـه چې د مجاهدینو له برید سره مخ شوه. په برید کې ۴ عسکر ووژل شول او ۷ نور مرګوني ټپیان شول او قـوه بیرته مرکز ته ستنه شوه. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

حصارک کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ کې یو اربکی چې عتیق الله نومیږي د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

پچیراګام کې ۱۲ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ په زمرخیـل، مـورګي او پچیرونو سیمو کې له هغو عسکرو سره خونړی جګړه وشوه چې د انتخاباتو مرکزونو ته یې صندوقونه انتقالول. د جګړې په ترڅ کې ۱۲ عسکر ووژل شول او یو ګـن شمېر نور ټپیان شول، په برید کې ګـن موټر هـم تخریب شول. د برید په پای کې د وارخطاه دښمن د هاوانونو په ناټار دزو کې ۳ ملکي وګړي په شهادت ورسېدل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۳

جلال اباد کې لیوا په میزایلو ویشتل شوه

دننګرهار ولایت د جلال اباد ښار اړوند د کابل اډې ته نژدې په سرحدي لیوا ۵ میزایل وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګېدل او له املـه یـې دښمن تـه درونـد زیـان واوښت. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

بتي کوټ کې چاودنو موټر او ٦ عسکر له منځه یووړل

د ننګرهـار ولایـت د بتـي کـوټ ولسـوالۍ پـه سـرګردان چـوک سیمه کې د اجیرو عسکرو په کرولا موټر دماین چاودنه وشوه

چې په بشپړه توګه يې ويجاړ کړ. وروسته چې نور عسکر سيمې ته راغلل دوهمه چاودنه پرې وشوه، په دواړو چاودنو کې ٦ عسکر مړه او ٩ تنه نور ژوبل شول. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

چپرهار کې ماين ٢٥ پوليسو ژوندۍ واخيست

د ننګرهار ولايت دچپرهار ولسوالۍ په حافظانو سيمه کې د پوليسو په ګزمه چاودنه وشوه، چاودنې ٢ تنه مړه او ٣ نور پوليس مرګوني تپيان کړل. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

چپرهار کې قومي مشرانو په انتخاباتو کې دګډون نه کولو ژمنه وکړه

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ کې د سيمې قومي مشرانو له مجاهدينو سره وعده کړې چې په راتلونکو جعلي انتخاباتو کې به ګډون ونه کړي او مجاهدينو ته يې يادونه وکړه چې د اسلامي امارت هر حکم منلو ته تيار دي او په انتخاباتو کې به ونډه وانخلي. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

مهمندره کې له دښمن سره نښته وشوه

د ننګرهار ولايت د مهمندرې ولسوالۍ په هزارناوسيمه کې د اجيري اردو له عسکرو سره نښته وشوه چې په ترڅ کې يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

شيرزاد ولسوالۍ، په ودانۍ بريد، ٥ پوليس ووژل شول

د ننګرهار ولايت د شيرزاد ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال بريد ترسره شو، د بريد له املې ودانۍ ته په زيان اوښتو سربيره ٥ پوليسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ٣ مرګوني تپيان شول، د دښمن د هاوان په ډزو ٢ تنه ملکي وګړي تپيان شول. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

بټي کوټ کې په پوليسو بريد وشو

د ننګرهار ولايت د بټي کوټ ولسوالۍ په بارم دو نهر سيمه کې پوستې ته نژدې په پوليسو وسلوال بريد ترسره شو، په بريد کې پوليسو ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

خوګيانو کې په ټانک چاودنې ٣ عسکر ووژل

د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په وزيرو سيمه کې داجيري اردو زغرو ال ټانک په ماين والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخريب شو، ٣ عسکر مړه او ٢ مرګوني تپيان شول. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

چپرهار کې چاودنو ٨ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولايت دچپرهار ولسوالۍ په للمه سيمه کې په پليو امريکايي عسکرو وشوه چې ٢ تنه يې ووژل او ٢ نور يې سخت تپيان کړل، دوهمه چاودنه په سره قلعه سيمه کې په پليو پوليسو وشوه چې ٤ تنو ته يې مرګ ژبله واړوله او دريمه چاودنه شعيب کلي ته نژدې د انتخاباتو د صندوقانو په موټر وشوه چې په بشپړه توګه يې ويجاړ کړ او صندوقان هم له منځه لاړل. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

کوټ کې د پوليسو په موټر ماين وچاودېد

د ننګرهار ولايت د کوټ ولسوالۍ په تريلي سيمه کې د پوليسو موټر په ماين والوزول شو چې پوره تخريب شو او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

چپرهار کې په پوستو بريدونه، قومندان او ١١ اربکيان ووژل شول

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په ودانۍ، د دولت زيو، سرې کلا او شغلدرې سيمو کې په پوستو وسلوال بريدونه ترسره شول، په بريدونو کې د اربکي قومندان عبدالجبار په ګډون ١١ تنه اربکيان ووژل شول او ١٥ تنه نور مرګوني تپيان شول. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

چپرهار کې د دښمن د هاوان مرمۍ ٦ تنه تپيان کړل

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په ملاجومه کلي باندې د دښمن د عسکرو له خوا د هاوان ډزې شوې چې له املې يې ٦ تنه تپيان شول وروسته عسکر کلي ته راغلل او ګڼ خلک يې په چاقوګانو ووهل. ٠٤-٠٤-٢٠١٤

خوګيانو کې چاودنې ٢ پوليس ووژل

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالي په قیلغو شنکي ژرنده سیمه کې د ښځ کړل شوي ماین چاودنې ۲ پولیس مړه او ۳ پولیس ټپیان کړل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

سرخرود کې په انتخاباتي حوزه بریدز یاوړاوه

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي په شمشپور سیمه کې د انتخاباتو په حوزه وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال د انتخاباتو ګڼ صندوقونه او نو وسائل تخریب شول او ساتونکو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

پچیراګام کې په پوستو برید، ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په ګیري خیلو سیمه کې د دښمن په پوستو وسلوال بریدونه ترسره شول، د بریدله امله ودانیو ته په زیان اوښتو سربیره ۲ پولیس ووژل شول.

۲۰۱۴-۰۴-۰۴

بتي کوټ کې قومي مشرانو درایه ټورکولوژمنه وکړه

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په بیلابیلو سیمو کې قومي مشرانو له مجاهدینو سره ولیدل او ډاډ یې ورکړ چې هیڅوک به د رایه اچونې مرکزونو ته لاړ نشي، دخبر له مخې مجاهدینو ټوله ورځ یادې ولسوالۍ ته له جلال اباد نه ورغلې لارې تړلې وې. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

پچیراګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په بامه خیلوسیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

نازیانو کې په پولیسو بریدوشو

د ننګرهار ولایت د نازیانو ولسوالي په ژي سر غونډۍ کې په پولیسو وسلوال برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن مرګ ژوبله ورته واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۴

لعلپور کې له دښمن سره نښته وشوه

د ننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالي د کرکټ میدان ته نژدې له ګډو ځواکونو سره درنه نښته وشوه، په نښته کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې.

۲۰۱۴-۰۴-۰۴

بتي کوټ کې دانتخاباتو دفتر اوپوسته وسوزول شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي بازار ته نژدې په پاس سیپای سیمه کې او په لوړتي کې حاجیانو جومات ته نژدې د انتخاباتو په دفتر او پوسته وسلوال بریدونه ترسره شول، د بریدونو په نتیجه کې د پوستې عسکر وتښتېدل او مجاهدینو دفتر او پوسته په بشپړه توګه وسوزول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۵

غني خېلو کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلوولسوالي په مارکوفرش سیمه کې د پولیسو په پوسته برید ترسره شو، په پوسته ودانۍ زیانمنه شوه او یوکې ېښتو پولیسو ته داوښتې مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۴-۰۴-۰۵

کامه کې د پولیسو موټر په ماین وانوت

د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالي په مریزاخیلو سیمه کې د انتخاباتي حوزې تر څنګه د پولیسو موټر په ماین وانوزول شو چې په پوره ډول تخریب شو او یوکې ناستو پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۶

رودات کې له اجیري اردو سره جګړه وشوه

د ننګرهار ولایت د رودات ولسوالي په شیمل کلي کې د اجیري اردو له عسکرو سره جګړه وشوه چې په مهال یې عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۶

غني خېلوولسوالي په ودانۍ بریدوشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلوولسوالي په ودانۍ د سپکو اودرنو وسلو برید ترسره شو چې له امله یې دښمن ته مالي اوځاني تلفات واوښتل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۶

بتي کوټ کې چاودنې ۳ اربکیان ووژل

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي د چاردهي سیمي سرګردان چوکه ته نژدې د اربکیانو په ګزمه دمایین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۳ تنه مړه ۵ اربکیان مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۶

غني خېلو کې په پوستو برید، ۶ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د غني خیل ولسوالي د مارکو بازار شهراه په پوسته او د مارکو د غونډۍ په پوسته وسلوال بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ۲ پولیس مړه او ۴ مرګوني ټپیان شول او په دېسرېره د پوستو ودانیو ته هم زیانونه واوښتل. ۲۰۱۴-۰۴-۰۶

غني خېلو کې په پوسته برید ترسره شو

د ننګرهار ولایت د غني خېلوولسوالي د مارکوفرش په سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، د بریدله امله د پوستې ودانۍ ته په زیان اوښتو سربېره اربکیانو ته هم درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۸

بتي کوټ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په چاردهي سیمه کې سرګردان چوک ته نژدې د دښمن په پوسته برید ترسره شوچې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴-۰۴-۰۸

چپرهار کې د برید په مهال ۳ اربکیان ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالي په سره کلا سیمه کې په اربکیانو برید ترسره شو، دبرید په مهال ۳ تنه اربکیان ټپیان شول او نور په تېښته بریالي شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۸

پچیراګام کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت په پچیراګام ولسوالي کې یو تن عسکر چې عطاالله نومېږي د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۰۱۴-۰۴-۰۸

بتي کوټ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي چې د ګړباوي او مارکو تر منځ سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله دښمن ته تلفات واوښتل اما په اړه یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

مهمندره کې پوسته وسوزول شوه او ۴ پولیس پکې ووژل شول

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالي داود تانې ته نژدې په ګاړي کنډو سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله چې له لږ مقاومت وروسته فتحه شوه او بیا وسوزول شوه، په پوسته کې ۴ تنه پولیس مړه او ۴ ګڼ یې ټپیان شول، په دې سربېره ۲ میله پیکا، ۱ راکټ لانچر، ۳ کلاشنکوفونه او ګڼ نور مهمات د غنیمت شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

غني خېلو کې په غونډ برید، ۴ عسکر قتل او ژوبل شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلوولسوالي په اړونده سیمه کې په ۷۱ غونډ چې ګډ دښمن پکې اوسېږي، وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دغونډ ودانۍ زیانمنه ، ۱ عسکر ووژل شو او ۳ شدید ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

مهمندرې ولسوالي په ودانۍ د برید له امله ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د د مهمندرې ولسوالي په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو، دبرید په مهال ۲ پولیس ووژل شول او د ولسوالي ودانۍ هم پوره تخریب شوه. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

چپرهار کې چاودنې ۱ عسکر ووژله

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالي په غورآباد سیمه کې داجیري اردو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه، دچاودنې له امله ۱ عسکر ووژل شو او ۲ شدید ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

پچیراګام کې دوه عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په اړونده سیمه کې دوه تنه دارد و عسکر (رسول خان او ګل اغا) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۰۱۴-۰۴-۰۹

بټي کوټ ولسوالۍ په ودانۍ برید، ٦ پولیس قتل او ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په ودانۍ او امنیه قومنداني د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې په مهال یې ۲ پولیس ووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربېره ودانۍ هم زیانمنې شوې. ۱۰-۰۴-۲۰۱۴

حصارک کې ۳ اربکیان قتل یوموټر یې ویجاړ شو

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ اړوند د مردار ډنډ په غونډیو کې په اربکیانو چې په پوستو جوړولو بوخت وو، وسلوال برید ترسره شو، پکې درې تنه اربکیان مړه او پاتي نورې په تېښته بریالي شول او د مردار ډنډ غونډۍ په کلي کې په یوه کور کې د مجاهدینو تر محاصري لاندي راغلل، همدا راز د دښمن یوموټر چې مردار ډنډ ته یې مهمات انتقالول په بشپړه توګه تخریب شو ۲۰۱۴/۴/۱۱

بټي کوټ کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په باریکاب سیمه کې یو عسکر چې امید نومېږي له مجاهدینو سره یو ځای شو، نوموړي د کابل په کمپیس تعلیمي مرکز کې دنده ترسره کوله. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

شیرزاد کې په پولیسو برید ترسره شو

د ننګرهار ولایت د شیرزاد ولسوالۍ ودانۍ ته نژدې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۱ پولیس ووژل شو او نور ودانۍ ته وتښتېدل. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

چپرهار ولسوالۍ ودانۍ تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو، وروسته له ولسوالۍ نه په راوتلو پولیسو هم وسلوال برید ترسره شو چې ۲ تنه ټپیان شول او د ولسوالۍ ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

غني خیل کې ۱۰ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت د غني خیل ولسوالۍ په سیاچوب کلي کې د اردو ۱۰ تنه عسکر د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په برکت د اسلامي امارت له مخالفت نه په شا او مجاهدینو سره یو ځای شول، په عسکرو کې جهانګیر، سجادګل، روزي ګل، اجرالله، نبي الله، واجد او محمد امجد، تسلیمو، ذبیح الله او رسیدالله شامل دي. ۱۱-۰۴-۲۰۱۴

چپرهار کې چاودنې ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په کانټینر ساحه کې د پولیسو په پلې ګزمه د چاودنې له امله ۱ پولیس ووژل شو او ۲ شدید ټپیان شول. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

چپرهار کې ۲ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې ۲ تنه عسکر (عبدالولي او میر اغا) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په نتیجه کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

بټي کوټ کې په موټر چاودنې ۵ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ د باریکاب پاټک او غازي امان الله خان مېنې تر منځ سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

ده بالا کې پولیس په دراز کوف وویشتل شو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په ګړي سیمه کې یو تن پولیس په دراز کوف په نښه او وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۱۲-۰۴-۲۰۱۴

ګوشتي کې په پوسته برید ترسره شو

د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالۍ په زیړي بند سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو، وروسته د اجیري اردو له هغو عسکرو سره هم نښته رامنځته شوه چې د کومک لپاره راغلل. په جګړو کې د پوستې ودانۍ زیانمنه او پکي میشتو

عسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته او یو موټر تخریب شو.
۲۰۱۴-۰۴-۱۲

جلال اباد کې په ګل اردو کې چاودنې ۳ عسکر ووژل

د جلال اباد ښار اړوند د ګل اردو په نظام قرول کې دځای په ځای شوي ماین درنه چاودنه وشوه، دچاودنې له امله ۳ عسکر مړه او یو بل سخت ټپي شو. ۱۳-۰۴-۲۰۱۴

حصارک کې اربکی ووژل شو

د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالی په علي خېلو ډاګ سیمه کې یو اربکی د مجاهدینو له خوا ووېشتل شو او سخت ټپي شو، وروسته د ټپونو له امله مړ شو. ۱۳-۰۴-۲۰۱۴

ده بالاکې ۱۱ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالی په امت خېلوسیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۴ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۷ نور مرګوني ټپیان شول، په دې سربیره ګڼ موټر هم تخریب شول.
۱۳-۰۴-۲۰۱۴

پچیراګام ولسوالی په ودانی برید وشو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالی په ودانی وسلوال برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل. ۱۳-۰۴-۲۰۱۴

ده بالاکې په کاروان برید، ۳ عسکر ووژل شول

دننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالی په لګور سیمه کې د دښمن په اکمالاتي کاروان برید ترسره شو، د برید په مهال ۳ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۵ شدید ټپیان شول. ۱۳-۰۴-۲۰۱۴

بتي کوټ کې په پوسته برید، ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

